# د افغانستان اسلامي امارت

## د دعوت او ارشاد مختصر نصاب

عقاید

طهارت

لمونځ

روژه

زکات

حج

نبوي سیرت

# د دعوت ارشاد مختصر نصاب

# د مطالبو فهرست

لومړی باب عقائد ...........
لومړی فصل د هر مسلمان لپاره د عقیدې په هکله لازمي معلومات ..........
د ویم فصل د الله تعالی په هکله د مسلمانانو عقیده ..........
د ریم فصل ملا ئـکـې فـرښـتـې ..........
څلورم فصل د الله تـعـالـی کـتـابـونـه ..........
پنځم فصل د الله تعالی پیغمبران علیهم السلام ..........
شپږم فصل د قیامت بیان ..........
اووم فصل د تقدیر بیان ..........
اتم فصل لـه مـرګ نه وروسـتـه بیـا ژونـدي کېدل ..........
نهم فصل: د اهل السنت والجماعت عقائد ..........
دویم باب طهارت ..........
لومړی فصل داوداسه فرضونه ..........
دویم فصل د اوداسه سنتونه ..........
دریم فصل د اوداسه مستحبات ..........
څلورم فصل د اوداسه مکروهات ..........
پنځم فصل د اوداسه ماتوونکي ..........
شپږم فصل د اوداسه د برخې تمر ین ..........
اووم فصل د غسل فرضونه ..........
اتم فصل د غسل سنتونه ..........
نهم فصل د غسل مکروهات ..........
لسم فصل د غسل واجبوونکي ..........
یوو لسم فصل د غسل تمرین ..........
دولسم فصل مسح ..........
دیار لسم فصل په موزو د مسحې طریقه ..........

څوار لسم فصل د تیمم بیان ........................................ ۳۱

پنځلسم فصل د تیمم تعریف ........................................ ۳۲

شپاړسم فصل د تیمم لپاره شرائط ........................................ ۳۲

اوولسم د تمیم فرضونه ........................................ ۳۲

اتلسم فصل د تیمم سنتونه ........................................ ۳۲

نو لسم فصل د تیمم کولو طریقه ........................................ ۳۳

شلم فصل د تیمم د برخي تمرین ........................................ ۳۳

دریيم باب لمونځ ........................................ ۳۳

لومړی فصل د لمانځه فضیلت ........................................ ۳۳

دویم فصل د لمانځه فرضیت ........................................ ۳۵

دریم فصل د لمانځه اهمیت ........................................ ۳۵

څلورم فصل په لمانځه سره ګناهونه معاف کیږي ........................................ ۳۶

فائدې ........................................ ۳۷

پنځم فصل مسجد ته د تللو او په جمع سره د لمانځه ادا کولو فضیلت ........................................ ۳۷

فوائد ........................................ ۳۸

فوائد ........................................ ۳۹

فوائد ........................................ ۳۹

فوائد ........................................ ٤۰

شپږم فصل د جمع لمونځ له یوازې لمانځه نه اووه ویشت درجې غوره دی ........................................ ٤۰

فوائد ........................................ ٤۲

فوائد ........................................ ٤۲

فوائد ........................................ ٤۳

فوائد ........................................ ٤۳

اووم فصل د لمانځه اقامت ........................................ ٤٤

اتم فصل په حروفو او تورو د لمانځه د زده کولو طریقه ........................................ ٤٤

نهم فصل د لمانځه د الفاظو صحیح او درست لوستل ........................................ ٤٥

لسم فصل دلمانځه ټکي په ټکي ترجمه .........................................................
یوولسم فصل د لمانځه احکام...............................................................
لومړی د لمانځه فرضونه ...................................................................
دویم د فرضونو د پرېښودلو حکم ...........................................................
دریم د لمانځه د فرضونو تمرین.............................................................
څلورم د لمانځه واجبات.....................................................................
پنځم د لمانځه د واجباتو د پرېښودلو حکم ..................................................
شپږم د سجده سهوې بیان ...................................................................
اووم.......................................................................................
د سجده سهوې طریقه.......................................................................
اتم د سجده سهوې په هکله خینې مسائل ...................................................
نهم د لمانځه د واجباتو تمرین..............................................................
لسم د لمانځه سنتونه ......................................................................
یوولسم د لمانځه د سنتونو د پرېښودلو حکم ...............................................
دو لسم د لمانځه د سنتونوتمرین............................................................
دیارلسم د لمانځه مستحبات.................................................................
څوار لسم د لمانځه د مستحباتو د پرېښودلو حکم..........................................
پنځلسم د لمانځه د مستحباتو تمرین.........................................................
شپاړسم د لمانځه مفسدات .................................................................
اوولسم د مفسداتو حکم......................................................................
اتلسم د لمانځه د مفسداتو...................................................................
تمرین ......................................................................................
نولسم د لمانځه مکروهات ..................................................................
لومړی په لمانځه کي تحریمي مکروهات ....................................................
دویم د مکروه تحریمي حکم.................................................................
دریم په لمانځه کي تنزیهي مکروهات .......................................................

څلورم د مکروه تنزیهي حکم ........ ٦٠

پنځم د مکروهاتو تمرین ........ ٦٠

یادونه ........ ٦١

دولسم فصل ........ ٦١

حرام او مکروه وختونه ........ ٦١

دیارلسم فصل هغه کرنې چې په مسجد کې ناجائز دي ........ ٦١

څوارلسم فصل ........ ٦٢

هغه ځایونه چې لمونځ کول پکې مکروه دي ........ ٦٢

پنځلسم فصل ........ ٦٣

په اسلام کې آذان ........ ٦٣

شپاړسم فصل ........ ٦٣

د آذان کولو ترتیب ........ ٦٣

اووه لسم فصل ........ ٦٣

له آذان څخه وروسته دعآء ........ ٦٣

اته لسم فصل ........ ٦٣

مسجد ته د ننوتلو دعاء ........ ٦٣

نولسم فصل ........ ٦٣

له مسجد نه د وتلو دعاء ........ ٦٣

شلم فصل ........ ٦٣

له لمانځه څخه وروسته اذکار ........ ٦٣

یویشتم فصل ........ ٦٤

د پنځو لمنځونو وختونه ........ ٦٤

لومړی د سهار وخت ........ ٦٤

دویم د ماسپښین د لمانځه وخت ........ ٦٤

دریم د مازدیګر د لمانځه وخت ........ ٦٤

څلورم د ماښام د لمانځه وخت ........ ٦٤

پنځم د ماسخوتن د لمانځه وخت ..............................................................................................

دوه ویشتم فصل..............................................................................................

د جمعې لمونځ ..............................................................................................

درویشتم فصل..............................................................................................

د تراویح لمونځ ..............................................................................................

څلور ویشتم فصل..............................................................................................

د تشریق ورځې ..............................................................................................

دریم باب ..............................................................................................

د مختلفو لمنځونو احکام..............................................................................................

لومړی فصل..............................................................................................

د صلواة تسبیح لمونځ..............................................................................................

دویم فصل..............................................................................................

د صلواة تسبیح د لمانځه ترتیب ..............................................................................................

دریم فصل..............................................................................................

د استسقآء لمونځ ..............................................................................................

څلورم فصل..............................................................................................

د خسوف او کسوف لمنځونه ..............................................................................................

پنځم فصل..............................................................................................

د مسافر لمونځ ..............................................................................................

شپږم فصل..............................................................................................

د مریض د لمانځه کولو طریقه ..............................................................................................

اووم فصل ..............................................................................................

قضا يي لمنځونه ..............................................................................................

اتم فصل..............................................................................................

د لمانځه د کفارې اندازه..............................................................................................

نهم فصل..............................................................................................

ازي د لمانځه بیان ........................ ٦٩

فصل ........................ ٦٩

ازي د لمانځه طريقه ........................ ٦٩

لسم فصل ........................ ٧٠

فترونو لمونځ ........................ ٧٠

سم فصل ........................ ٧١

ستخاري لمونځ ........................ ٧١

رلسم فصل ........................ ٧١

ستخاري د لمانځه ګټي اوموخي ........................ ٧١

ارلسم فصل ........................ ٧٢

استخاري ارزښت ........................ ٧٢

خلسم فصل ........................ ٧٢

استخاري طريقه ........................ ٧٢

پارسم فصل ........................ ٧٢

استخاري دعاء ........................ ٧٢

وه لسم فصل ........................ ٧٣

استخاري د لمانځه مسائل ........................ ٧٣

لسم فصل ........................ ٧٤

استخاري ځای ........................ ٧٤

ولسم فصل ........................ ٧٥

حاجت لمونځ ........................ ٧٥

شلم فصل ........................ ٧٥

حاجت د لمانځه طريقه ........................ ٧٥

یوويشتم فصل ........................ ٧٥

د اشراق لمونځ ........................ ٧٥

دوه ويشتم فصل ........................ ٧٥

د اشراق د لمانځه فضیلت ............................

دروېشتم فصل ............................

د څاښت لمونځ ............................

څلور وېشتم فصل ............................

د څاښت د لمانځه فضیلت ............................

پنځه وېشتم فصل ............................

د اوابین لمونځ ............................

شپږ وېشتم فصل ............................

د تهجد لمونځ ............................

اووه وېشتم فصل ............................

د تلاوت سجده ............................

اته وېشتم فصل ............................

د مقتدي اقسام ............................

نهه وېشتم فصل ............................

په اسلام کې د دعا مرتبه ............................

دېرشم فصل ............................

د دعا آداب ............................

یودېرشم فصل ............................

د دعا شرطونه ............................

دوه دېرشم فصل ............................

هغه کسان چې دعا یې ژر قبلېږي ............................

درې دېرشم فصل ............................

د توبې کولو طریقه ............................

څلور دېرشم فصل ............................

د توبې د قبولیت شرطونه ............................

پنځه دېرشم فصل ............................

د لاندې اشخاصو دعا نه قبلیږي ................ ۷۹
شپږ دېرشم فصل ................ ۸۰
څو مسنوني دعاګانې ................ ۸۰
څلورم باب روژه ................ ۸۰
لومړی فصل د رمضان روژه ................ ۸۰
دویم فصل د روژې نیت ................ ۸۱
دریم فصل دروژې ارکان ................ ۸۱
څلورم فصل لاندې شپږشیان روژه باطلوی ................ ۸۱
پنځم فصل پیشلمی اوروژه ماتی ................ ۸۱
شپږم فصل د قضا یې روژې بیان ................ ۸۱
اووم فصل د نذر روژه ................ ۸۲
اتم فصل د هغوشیانوبیان چې کفاره پرې لازمیږی ................ ۸۲
نهم فصل د کفارې بیان ................ ۸۳
لسم فصل د روژې ماتول کوم وخت روا دي ................ ۸۳
یوو لسم فصل د فدیې بیان ................ ۸۳
دولسم فصل د اعتکاف ډولونه ................ ۸۳
دیارلسم فصل په اعتکاف کې دوه قسمه کارونه حرام دي ................ ۸۴
پنځم باب زکاة ................ ۸۴
لومړی فصل د زکات ورکړه ................ ۸۴
دویم فصل د اسلام څلورمه بناء زکات دی ................ ۸۴
دریم فصل په زکات کې د نصاب بیان ................ ۸۵
څلورم فصل د زکات د ادآء کولو شرائط ................ ۸۶
پنځم فصل د زکات د مصرف بیان ................ ۸۶
شپږم فصل هغه کسان چې زکات نه ورباندې کیږي ................ ۸۷
اووم فصل د فطر (سرسایې) د زکات حکم ................ ۸۷
اتم فصل د فطر (سرسایي) اندازه ................ ۸۷

شپږم باب د بيت الله حج .......................................................................................

لومړی فصل د اسلام پنځمه بناء حج ګڼل دي .............................................................

دويم فصل د حج تعريف ....................................................................................

دريم فصل د حج د فرضيت شرطونه ............................................................................

څلورم فصل د حج د واجب کېدو شرطونه ......................................................................

پنځم فصل د حج اداء کولو د صحت شرطونه .......................................................

شپږم فصل احرام ..................................................................................................

اووم فصل د حج ارکان يا فرائض ..............................................................................

اتم فصل د حج واجبات ....................................................................................

نهم فصل د حج سنتونه ...................................................................................

لسم فصل د حج ممنوعات يا محظورات ...........................................................................

يوولسم فصل د حج د اداء کولو طريقه ..................................................................

دیار لسم فصل د حج ډولونه ..................................................................................

لومړی د قران حج ...........................................................................................

دويم د تمتع حج ...................................................................................................

دريم د افراد حج .........................................................................................

څوار لسم فصل عمره ...................................................................................

پنځلسم فصل جنايتونه او جزاوې يې ...........................................................

شپاړسم فصل هدی ...................................................................................

اووه لسم د قربانی د وجوب دليل ..........................................................................

اتلسم فصل د قربانی د وجوب شرائط ..................................................................

نو لسم فصل د قربانی د ذبحې شرائط ..................................................................

شلم فصل د ذبحې وختونه ...................................................................................

يو ويشتم فصل څوک چې ذبحه کوي د هغه اجوره .....................................................

دوه ويشتم فصل د قربانی له پوستکي نه استفاده .....................................................

درويشتم فصل د قربانی ورکېدل ....................................................................

څلور ويشتم فصل د قرباني مكروهات ................................................................ ۹۹

پنځه ويشتم فصل د قرباني د شركاؤ تعداد ................................................................ ۹۹

شپږ ويشتم فصل د قرباني څاروى او دهغه اوصاف ................................................................ ۹۹

اووه ويشتم فصل هغه عيبونه چې قرباني نه منعه كوي ................................................................ ۱۰۰

اته ويشتم فصل منعه كوونكي عيبونه ................................................................ ۱۰۰

نهه ويشتم فصل د قرباني له مال نه ګټه اخيستل ................................................................ ۱۰۰

دېرشم فصل د قرباني ذبحه ................................................................ ۱۰۰

څلور دېرشم فصل د ذبحې اركان ................................................................ ۱۰۰

پنځه دېرشم فصل د ذبحې حلال والى ................................................................ ۱۰۰

شپږ دېر شم فصل دقرباني غوښه ................................................................ ۱۰۰

اووه دېرشم فصل د عقيقې بيان ................................................................ ۱۰۱

اووم باب نبوي سيرت ................................................................ ۱۰۱

لومړى فصل ................................................................ ۱۰۱

درسول الله صلى الله عليه وسلم نسب ................................................................ ۱۰۱

دكعبې شريفې د ودانولو او د حجر الاسود دتيږې ايښودلو واقعه ................................................................ ۱۰۳

د رسول الله صلى الله عليه وسلم په پيغمبرى مبعوث كېدل ................................................................ ۱۰۴

د رسول الله صلى الله عليه وسلم تجارت ................................................................ ۱۰۴

دعوت او لومړي ايمان راړونكي ................................................................ ۱۰۵

د اسلام ښكاره كېدل او د مشركينو عكس العمل ................................................................ ۱۰۵

حبشې ته د هجرت كولو واقعه ................................................................ ۱۰۶

د مشركينو بنديزونه ................................................................ ۱۰۷

عام الحزن دغم كال ................................................................ ۱۰۷

د طائف واقعه ................................................................ ۱۰۸

د معراج واقعه ................................................................ ۱۰۸

د عقبې تړون ................................................................ ۱۰۹

د مشركينو لخوا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وژلو دسيسه ................................................................ ۱۰۹

د هجرت واقعه ................................................................ ۱۱۰

د رسول الله صلی الله علیه وسلم غزاګانې..........

د حدیبي سوله..........

د مکې مکرمې فتحه..........

د مشرکینو لخوا د پیغمبر صلی الله علیه وسلم خورول..........

رسول الله صلی الله علیه وسلم خصلتونه، اداب او اخلاق یې..........

حدیث او معجزې..........

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملګري، نومونه، توري او ساتونکي یې..........

د مدینې منورې ښار او فضیلت یې..........

د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیبیانې..........

د رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات..........

دویم فصل دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند مهمې پېښې..........

۴۰ کاله مخکې له بعثت څخه ، عام الفیل ۵۷۰ ز پیدیزکال..........

۳۶ - کاله مخکې له بعثت څخه په ، ۵۷۴ ز کال..........

۳۴ کاله مخکې له بعثت څخه په ، ۵۷۶ ز کال..........

۳۲ کاله مخکې له بعثت څخه په ، ۵۷۸ ز کال..........

۲۰..........

کاله مخکې له بعثت څخه په ، ۵۹۵ ز کال..........

۱۵ کاله مخکې له بعثت څخه په، ۶۰۰ ز کال..........

۵ کاله مخکې له بعثت څخه په، ۶۰۵ ز کال..........

۲ کاله مخکې له بعثت څخه په ، ۶۰۲ ز کال..........

د بعثت لومړی ، دویم او دریم کال..........

د بعثت څلورم کال..........

د بعثت پنځم کال..........

د بعثت شپږم کال..........

د بعثت اووم کال..........

د بعثت اتم او نهم کال..........

د بعثت لسم کال عام الحزن ........................................................................ ۱۳۰
د بعثت یوولسم کال ........................................................................ ۱۳۰
د بعثت دولسم کال ........................................................................ ۱۳۰
د بعثت ۱۳ کال ........................................................................ ۱۳۱
د مدیني دوران د هجرت له لومړي کال نه تر یوولسم هجري کال پورې ........................................................................ ۱۳۱
د هجرت لومړی کال ........................................................................ ۱۳۱
د هجرت دویم کال ........................................................................ ۱۳۱
د هجرت درېیم کال ........................................................................ ۱۳۲
د هجرت څلورم کال ........................................................................ ۱۳۲
د هجرت پنځم کال ........................................................................ ۱۳۲
د هجرت شپږم کال ........................................................................ ۱۳۳
د هجرت اووم کال ........................................................................ ۱۳۳
د هجرت اتم کال ........................................................................ ۱۳۳
د هجرت نهم کال ........................................................................ ۱۳۴
د هجرت لسم کال ........................................................................ ۱۳۴
د هجرت یوولسم کال ........................................................................ ۱۳۴
پای ........................................................................ ۱۳۴

# لومړی باب عقائد

## لومړی فصل د هر مسلمان لپاره د عقیدې په هکله لازمي معلومات

۱-پوښتـنه: د مسلمانانو د دین نوم څه دی ؟

۱-ځـواب: اسلام.

۲-پوښتـنه: اسلام څه ښوونه کوي ؟

-۲ځـواب: اسلام داښوونه کوي چې الله تعالی یو دی دبندګۍ لایق یوائې هغه دی ، حضرت محمد د الله تعالی بنده او رسول دی، قران کریم د الله تعالی کتاب دی، اسلام رښتینی دین دی،د دنیا او اخرت د ټولو ښېګڼو اونېکو خبر و ښودنه اسلام کوي.

۳-پوښتـنه: د توحید کلمه کومه ده:

۳-ځـواب: د توحید کلمه داده

لااِلٰهَ اِلاَاللهُ مُحَمّدَ رسُولُ اللهِ

ژباړه: له الله تعالی نه پرته بل دعبادت وړ معبود نشته محمد دالله رسو ل دی ، دې کلمې ته کلمه طیبه اوکلمه توحید وا یي.

۴- پوښتـنه: دشهادت کلمه کومه ده

۴-ځـواب: دشهادت کلمه داده.

اشْهَدَ انَّ لا الهَ الا اللهُ وَحدَهُ لاشَرِيكَ لَهُ وَاشهَدَ انَّ مُحَمَّداعَبدُه و رَسُولُهُ

زه شاهدي ورکوم چې له الله تعالی نه پرته بل ذات دعبادت وړ نشته هغه یو دی سیال نه لري، اوداشاهدي ورکوم چې محمد يې بنده او رسول دی.

۵-پـوښتـنه: ایمان مجمل کوم دی؟

۵-ځـواب: ایمان مجمل دادی.

امنتُ بالله کماهو باسمائه وصفاته، وقبلتُ جميع احكامه إقرار باللسان وتصديق بالقلب.

ایمان مې راوړی باور اویقین مې کړی پرالله باندې لکه څرنګه چې الله تعالی هغسې دی اود هغه په نومونو او صفتونو باندې مې ایمان راوړی ، او ما يې ټول حکمونه منلي دی زه په ژبه اقرار کوم او په زړه باور کوم.

۶-پـوښتـنه: ایمان مفصل کوم دی

۶-ځـواب: ایمان مفصل دادی.

امَنتُ بِاللهِ وَمَلائكتهِ وَكُتُبِهِ وَرسُولِهِ وَاليَومِ الاخِرِ وَالقدَرَ خَيرهِ وَشَره من اللهِ تعَالی وَالبعَثِ بعَدِ المَوت.

ایمان مې راوړی پرالله باندې پرملائکویې، پرکتابونویې او د هغه پررسولانو، دقیامت پر ورځې او په دې چې دښه اوبد تقدير دالله تعالی له لوري دی، او له مرګ وروسته پر ژوندي کېدو باندې.

۷-پـوښتـنه: تاسي چا پیدا کړي يئ؟

۷-ځـواب: مونږ، زمونږ مورا و پلار، اسمانونه، ځمکې او ټول مخلوق الله تعالی پیدا کړي.

۸-پـوښتـنه: الله تعالی دنیا له څه شي نه پیدا کړه؟

۸-ځـواب: په خپل قدرت اوحکم سره يې پیدا کړې ده.

۹-پـوښتـنه: کوم خلک چې الله تعالی نه مني هغوی ته څه وا يي؟

۹-ځـواب: هـغوی ته کافران وا يي.

۱۰-پـوښتـنه: کوم خلک چې له الله تعالی نه پرته دنورو شیانو عبادت کوي اویادوه درې خدایان مني هغوی ته څه وايي؟

۱۰-ځـواب: داسې خلکو ته مشرکان او کافران وا يي.

۱۱-پـوښتـنه: مشرک ببښل کېږي او که نه؟

۱۱-ځـواب: نه! مشرک نه ببښل کېږي ، هغه به تل ترتله په تکلیف او عذاب کې وي.

۱۲-پوښتنه: حضرت محمد صلی الله علیه وسلم څوک وو؟

۱۲-ځواب: حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دالله تعالی بنده، دهغه رسول او پیغمبر و، مونږ یې امت

۱۳-پوښتنه: زمونږ پیغمبر چېرې پیداشوی و؟

۱۳-ځواب: د عربو په وطن کې دمکې معظمې یو ښار دی، په هغه کې پیداشوی و.

۱۴-پوښتنه: دده مبارک د پلار او نیکه نومونه څه وو؟

۱۴-ځواب: د پلار نوم یې عبدالله او دنیکه نوم یې عبدالمطلب و.

۱۵-پوښتنه: زموږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم درتبې له لحاظه له نورو پیغمبرانو لوړ او که ښکته دی؟

۱۵-ځواب: زموږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم په رتبه کې ترټولو پیغمبرانو لوړ او د الله تعالی له ټول مخ
لوړ دی.

۱۶-پوښتنه: حضرت محمد صلی الله علیه وسلم عمر چېرې تېر کړی و؟

۱۶-ځواب: تردرې پنځوس کالو پورې په خپل ښار، مکه معظمه کې اوسیده او له هغه وروسته د الله ت
حکم سره سم مدینې منورې ته ولاړ، لس کاله یې هلته تېر کړل او د درې شپېتو کالو په عمر له دنیا څخه

۱۷-پوښتنه: که چېرې یو څوک حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه مني هغه څرنګه دی؟

۱۷-ځواب: څوک چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی رسول نه بولي هغه هم کافر دی.

۱۸-پوښتنه: د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د منلو مطلب څه دی؟

۱۸-ځواب: د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د منلو مطلب دا دی چې: سړی په دې یقین وکړي چې هغ
تعالی رالیږل شوی پیغمبر دی او په دې یې عقیده وي چې دی مبارک له الله تعالی نه وروسته ترټول مخلوق
دی او له ده سره مینه ولري، د حکمونو پیروي یې وکړي.

۱۹-پوښتنه: دا څرنګه معلومه شوه چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی پیغمبر دی؟

۱۹-ځواب: داسې ښه ښه کارونه یې وکړل، او داسې خبرې یې خلکوته وښودلې چې له پیغمبر پرته یې
څوک ښوولای شي، او نه یې کولای شي.

۲۰-پوښتنه: دا څرنګه معلومه شوه چې قران کریم د الله تعالی کتاب دی؟

۲۰-ځواب: حضرت محمد فرمایلي دي چې قران کریم د الله تعالی کتاب دی او پر موږ باندې یې نازل کړی

۲۱-پوښتنه: قرانکریم پر پیغمبر په یوه وار او که لږ لږ نازل شوی؟

۲۱-ځــواب: هو! لږلږنازل شوی، کله یو ایت، کله دوه، کله څلور ایاتونه او کله هم بشپړ سورت، څومره به چې ورته ضرورت و هغومره به نازلېده.

۲۲-پوښتــنه: په څومره وخت کې ټول قران کریم نازل شو.؟

۲۲-ځــواب: په درویشت کاله کې.

۲۳-پوښتــنه: قران کریم څه ډول نازلیده؟

۲۳-ځــواب: حضرت جبرائیل به راغی رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک ته به یې آیت یا سورت تېراوه، ده مبارک به اورېده، یاداوه به یې او لیکونکی به یې راوغوښت په هغه به یې ولیکه.

۲۴-پوښتــنه: ده مبارک خپله ولې نه لیکه؟

۲۴-ځــواب: ځکه چې دی مبارک "امِّي وو.

۲۵-پوښتــنه: امي چاته وا یي؟

۲۵-ځــواب: د چا چې لیک لوست زده نه وي هغه ته "امي وا یي که څه هم پیغمبر په دنیا کې له چا څخه علم زده کړی نه و خو بیا هم الله تعالی ده مبارک ته تر ټول مخلوق نه زیات علم ورکړی و.

۲۶-پوښتــنه: حضرت جبرائیل څوک و؟

۲۶-ځــواب: ملائیکه ده، پیغمبرانو ته به یې د الله تعالی حکمونه راوړل.

## د ویم فصل د الله تعالی په هکله د مسلمانانو عقیده

۲۷-پوښتنه: د الله تعالی په هلکه د مسلمانانو عقیده باید څه ډول وي؟

۲۷-ځواب: مسلمانان باید دا عقیده ولري چې:

۱-الله تعالی یو دی.

۲-یوائې همغه د عبادت او بندګۍ وړ دی او له هغه پرته د بندګۍ وړ بل هیڅوک نشته.

۳-هغه سیال نه لري.

۴- له هرڅه خبر دی هیڅ شی ترینه پټ نه دي.

۵-د پوره طاقت او قدرت خاوند دی.

۶-ځمکه، آسمان، سپوږمۍ، لمر، ستوري، ملائکې، انسانان، پیریان، او لنډه دا چې ټول جهان یوائې هغه پیدا کړی او هغه یې مالک دی.

۷-مرګ او ژوند د هغه له لورې دی، یعني د ټول مخلوق ژوند او مرګ د هغه په واک کې دی.

۸- هغه ټول مخلوق ته روزي ورکوي

۹- خوراک، څښاک او خوب نه کوي

۱۰-تل و او تل ترتله به وي

۱۱-هغه هیڅا پیدا کړی نه دی.

۱۲-نه یې پلار شته نه زوی، نه لور، نه ښځه، او نه هم له چا سره دغه ډول خپلوي لري، له دا رنګه ټولو خپلوا... څخه پاک دی.

۱۳-هرڅه ده ته محتاج دي، خودی هیڅا ته محتاج نه دی او هیڅ شي ته اړتیا نلري

۱۴-بې مثله دی هیڅ یو شی یې په څېر نه د ي.

۱۵-له ټولو عیبونو پاک دی.

۱۶-د مخلوق په څېر لاس، پښې، پوزه او غوږونه نه لري

۱۷-ملائکې یې پیدا کړې او د دنیا په بیلا بیلو کارونویې ګمارلي دي.

۱۸-د خپل مخلوق د لارښوونې هدایت لپاره یې پیغمبران رالیږلي، تر څو خلکو ته رښتینې لاره دین... وښیي، ښې خبرې ورزده اوله بدو یې منع کړي.

## د ریم فصل ملا ئـکـې فـرښتـې

۲۸-پـوښـتنه: ملائکې څوک دي ؟

۲۸-ځـواب: ملائکې دالله تعالی یو جلا مخلوق دی له نوره پیدا شوي او زموږ له سترګو پنا دي نه نارینه او... هم ښځینه دي، نه د الله تعالی دحکم نافرماني او نه ګناه کوي، په کومو کارو یې چې مقرري کړې دي په هغ... بوختې دي.

۲۹-پـوښـتنه: ملائکې څومره دي ؟

۲۹-ځـواب: د ملائکو شمیر له الله تعالی پرته بل هیڅ چاته معلوم نه دی هو ! دومره موږ ته معلومه ده چ... ملائکې ډیرې اوڅلور پکې مقربې اومشهورې ملائکې دي.

۳۰-پـوښـتنه: مقربې اومشهورې ملائکې کومې دي ؟

۳۰-ځـواب:

اول: حضرت جبرائیل چې دالله تعالی کتابونه، احکام، او پیغامونه به یې پیغمبرانو علیهم السلام ته راوړل...

دوهم: حضرت اسرافیل چې دقیامت شپیلۍ به پو کوي.

دریم: حضرت میکائیل چې دباران د اورښت او مخلوق ته د روزي رسولو په کارو مقرره ده.

څلورم: حضرت عزرائیل چې له مخلوق څخه د روح په اخیستلو مقرره ده.

## څلورم فصل د الله تـعـالـی کـتـابـونـه

۳۱-پوښتنه: د الله تعالی کتابونه څودي ؟

۳۱-ځـواب: د الله تعالی ډیر زیات واړه او غټ کتابونه پر پیغمبرانو علیهم السلام نازل شوي دي، غټو ته یې کتابونه او وړو ته یې صحیفې وایي څلور کتابونه مشهوردي.

۳۲پوښتنه: څلور مشهور اسماني کتابونه کوم دي ؟او په کومو پیغمبرانو نازل شویدي ؟

۳۲-ځـواب: لاندې کتابونه دي:

۱-تورات: چې په حضرت موسی نازل شوی.

۲-زبور: چې په حضرت داوٗد نازل شوی دی.

۳-انجیل: چې په حضرت عیسی نازل شوی دی.

۴-قرانٓ کریم: چې په حضرت محمد نازل شوی دی.

۳۳پوښتنه: صحیفې څومره دي او پر کومو پیغمبرانو نازلې شوې دي ؟

۳۳ځـواب: ټولې سل صحیفې دي، لس صحیفې پر حضرت موسی علیه السلام له تورات څخه تر مخه نازلې شوي، پنځوس صحیفې پرحضرت شیث علیه السلام، دېرش صحیفې په حضرت اخنوخ (ادریس) علیه السلام - او لس صحیفې پر حضرت ابراهیم علیه السلام نازلې شوې دي.. (۱)

## پنځم فصل د الله تعالی پیغمبران علیهم السلام

۳۴پوښتنه: رسول چاته وایي ؟

۳۴ځـواب: رسول انسان او د الله تعالی بنده وي الله تعالی خپلو بندګانو ته دحکمونو د رسولو لپاره ټاکلی وي ،هغوی رښتیا ویونکي وي درواغ هیڅکله نه وایي، ګناه نه کوي، د الله تعالی په امرسره معجزې ښکاره کوي، پیغامونه یې په پوره ډول مخلوق ته رسوي کموالی او زیاتوالی پکې نه کوي اونه هم هیڅ یو پیغام پټوي.

۳۵پوښتنه: د نبي معنا څه ده ؟

---

(۱) صحیح ابن حبان ۷۷ص

دریم: حضرت میکائیل چې دباران د اوربښت اومخلوق ته دروزي رسولو په کارو مقرره ده.

څلورم: حضرت عزرائیل چې له مخلوق څخه د روح په اخیستلو مقرره ده.

## څلورم فصل د الله تـعـالـی کـتـابـونـه

۳۱-پوښتنه: د الله تعالی کتابونه څودي ؟

۳۱-ځواب: د الله تعالی ډیر زیات واړه اوغټ کتابونه پر پیغمبرانو علیهم السلام نازل شوي دي، غټو ته يې کتابونه او وړو ته يې صحیفې وايي څلور کتابونه مشهوردي.

۳۲پوښتنه: څلور مشهور اسماني کتابونه کوم دي ؟او په کومو پیغمبرانو نازل شویدي ؟

۳۲-ځواب: لاندې کتابونه دي:

۱-تورات: چې په حضرت موسی نازل شوی.

۲-زبور: چې په حضرت داوْد نازل شوی دی.

۳-انجیل: چې په حضرت عیسی نازل شوی دی.

۴-قرانَ کریم: چې په حضرت محمد نازل شوی دی.

۳۳پوښتنه: صحیفې څومره دي او پرکومو پیغمبرانو نازلې شوې دي ؟

۳۳ځواب: ټولې سل صحیفې دي، لس صحیفې پر حضرت موسی علیه السلام له تورات څخه تر مخه نازلې شوي، پنځوس صحیفې پرحضرت شیث علیه السلام، دیرش صحیفې په حضرت اخنوخ (ادریس) علیه السلام -او لس صحیفې پر حضرت ابراهیم علیه السلام نازلې شوې دي.. [1]

## پنځم فصل د الله تعالی پیغمبران علیهم السلام

۳۴پوښتنه: رسول چاته وا يي ؟

۳۴ځواب: رسول انسان او د الله تعالی بنده وي الله تعالی خپلو بندګانو ته دحکمونو د رسولو لپاره ټاکلی وي ،هغوی رښتیا ویونکي وي دروا غ هیڅکله نه وایي، ګناه نه کوي، د الله تعالی په امرسره معجزې ښکاره کوي، پیغامونه يې په پوره ډول مخلوق ته رسوي کموالی او زیاتوالی پکې نه کوي اونه هم هیڅ یو پیغام پټوي.

۳۵پوښتنه: د نبي معنا څه ده ؟

---

[1] صحيح ابن حبان ۷۷ص

۳۵ځـواب: د نبي معنا همداده چې هغه د الله تعالی بنده او انسان وي د الله تعالی حکمونه بندګانو ته ر
رښتینی وي دروغ نه وایي، ګناه نه کوي، د الله تعالی جل جلاله په حکمونو کې کموالی او زیاتوالی نه
او نه هم هیڅ یو حکم پټوي.

۳۶پـوښـتنه: دنبي اورسول تر منځ څه فرق شته ؟اوکه دواړه یو شی دي ؟

۳۶ځـواب: د نبي اورسول په منځ کې لږ فرق شته او هغه داچې: رسول هغه پیغمبر ته وا ییچې د الله تعالی له
نوی شریعت اوکتاب ورکړل شوی وي، اونبي هغه پیغمبرته وا یي چې نوی شریعت او کتاب نه وي ورکړل ش
بلکې د مخکني شریعت او کتاب په تبلیغ مامور وي. تفسیر کشاف.

۳۷پـوښـتنه: ایا یو سړی په خپل کوښښ اوعبادت سره نبي کېدلای شي ؟

۳۷ځـواب: نه ! بلکې هغه څوک نبي وي چې الله تعالی یې نبي وګرځوي معنا داچې دنبي اورسول کېدل دانس
په کوښښ او ارادې پورې تړلي نه دي، بلکې دامرتبه د الله تعالی له لوري ورکول کېږي.

۳۸پـوښـتنه: د رسولانو اونبیانو شمیر څومره دی ؟

۳۸ځـواب: دنیا ته ډیر رسولان اونبیان راغلي دي خو د هغوي پوره شمیره یوازې الله تعالی ته معلوم دی،
روایاتو کې د رسولانو شمېر درې سوه او دیارلس ښودل شوی او د ټولو پیغمبرانو شمېر یو لک او څلور ویش
زره زیات او کم ښودل شوی خو مونږ اوتاسو باید دا عقیده ولرو چې د الله تعالی ټول رسولان هرڅومره چې و
برحق اوریښتیني دي.

۳۹پـوښـتنه: لومړی پیغمبر څوک وو؟

۳۹ځـواب: تر ټولو لومړی پیغمبر حضرت ادم علیه السلام دی.

۴۰پـوښـتنه: تر ټولو وروستی پیغمبر څوک دی ؟

۴۰ځـواب: ترټولو وروستی او اخري پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی.

۴۱پـوښـتنه: له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه وروسته بل پیغمبر راځي اوکه نه ؟

۴۱ځـواب: نه ! ځکه چې پیغمبري اونبوت پر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم پای ته ورسیده له
مبارک وروسته ترقیامته پورې هیڅ یو نبي نه راځي، له ده مبارک وروسته چې څوک د پیغمبرۍ دعوه کوي ه
دروغجن دی.

۴۲پـوښـتنه: په رسولانو کې ترټولو غوره رسول څوک دی ؟

۴۲ځـواب: زمونږ پیغمبر حضرت محمدصلی الله علیه وسلم په ټولو نبیانو او رسولانو کې غوره او لوی دی
دی که څه هم د الله تعالی بنده او اطاعت کونکی دی خو له الله تعالی وروسته په مخلوق کې ترهرچا دده مبار
مرتبه لوړه ده.

## شپږم فصل د قیامت بیان

۴۳پوښتنه: دقیامت ورځ څه ته وایي ؟

۴۳ځواب: قیامت هغې ورځي ته وایي چه کومه کې به چې ټول انسانان او حیوانات مړه کیږي، اوټوله دنیا به له منځه ځي، غرونه به نداپ شوي پومبې او مالوچو په څیر په هوا کې والوزي ستوري به ټوټه ټوټه شي لاندې به راولوېږي، لنډه داچې هرشی به زره زره او له منځه لاړشي.

۴۴پوښتنه: ټول انسانان اوحیوانات به څرنګه مړه کیږي ؟

۴۴ځواب: حضرت اسرافیل به شپیلۍ پو کړي د شپیلۍ اوآز به یې دومره "ویروونکی" اوسخت وي چې له هیبت به یې ټول خلک مړه او هر شی به زره زره او فنا شي.

۴۵پوښتنه: قیامت به څه وخت وي ؟

۴۵ځواب: قیامت راتلونکی دی خو ټاکلی وخت یې له الله تعالی پرته هیچاته معلوم نه دی، هو ! دومره معلوم دي چې دجمعې په ورځ دمحرم په لسمه نیټه به وي او زمونږ پیغمبر ځینې نښانې ښودلې دي هغو ته که وکتل شي معلومیږي چې قیامت نږدې دی.

۴۶پوښتنه: دقیامت نښانې کومې دي ؟

۴۶ځواب: پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

۱-کله چې په دنیاکې ګناوې زیاتې شي.

۲-خلک د خپل مور او پلار نافرمانه شي اوپرهغوی سختي پیل کړي.

۳-په امانت کې خیانت پیل شي.

۴-سندرې غږول، رقص(ګډا)، اوسرود زیات شي.

۵-وروستي خلک مخکنیو بزرګانو ته بد ویل پیل کړي.

۶-بې علمه اوکم علمه خلک مشران شي.

۷-شپانه او د ټیټې درجې خلک لوړ لوړ عمارتونه جوړول پیل کړي.

۸-ناپوه خلکو ته غټې چوکۍ په لاس ورشي، نو په دې پوه شه چې قیامت نژدې دی.

## اووم فصل د تقدیر بیان

۴۷پوښتنه: تقدیر څه ته وایي ؟

۴۷ځـواب: د هرې خبرې او هرشي د ښه اوبد اندازه چې له پخوانه د الله تعالی په علم کې ټاکل شوې او د هر شي له پیدا کېدو تر مخه الله تعالی ته معلومه وي ، د الله تعالی همدې علم او اندازې ته تقدیروا یي، هیڅ یو ښه اوبد شی د الله تعالی له علم او اندازې څخه د باندې او بهر ندی.

## اتم فصل لـه مـرگ نه وروستـه بیـا ژونـدي کېـدل

۴۸پوښـتنه: له مرګه وروسته د بیاژوندي کېدلو مطلب څه دی ؟

۴۸ځـواب: کله چې د قیامت په ورځ ټول شیان له منځه لاړ شي اسرافیل به دویمه شپیلۍ پو کړي چې په دې سره به بیرته ټول شیان او انسانان راژوندي شي، د حشر په میدان کې به ټول مخلوق د الله تعالی درانه حضور ته وړاندې شي، حساب به اخیستل کېږي ، د ښو اوبدو کارو بدله به ورکول کېږي ، په کومه ورځ چې دا کارونه ترسره کېږي هغې ورځې ته "یوم الحشر" د جمع کېدلو ورځ ، "یوم الجزا" او "یوم الدین" د بدلې ورکولو ورځ ، او "یوم الحساب" د حساب ورځ وایي.

۴۹پـوښـتنه: په ایمان مفصل کې چې د کومو اوو(۷) شیانو یادونه راغلې په هغو کې که څوک یو یا دوه خبرې ونه مني مسلمان بلل کېدای شي او که نه ؟

۴۹ځـواب: نه ! هیڅکله نه ، کله چې یو څوک د الله تعالی کتابونه، ملائکې، دقیامت ورځ، تقدیر، او له مرګه وروسته بیاژوندي کېدل نه مني مسلمان کېدلای نه شي.

۵۰پوښتنه: حضرت پیغمبر د اسلام بنیاد پنځه شیان ښودلي، په هغو کې خو د ملائکو او د الله تعالی د کتابونو ،د قیامت ، تقدیر اونورو یادونه نه ده شوې ؟

۵۰ځـواب: په هغو پنځو شیانو کې یو هم پرحضرت محمد باندې د ایمان راوړل دي او کله چې یو څوک پرحضرت محمدصلی الله علیه وسلم باندې ایمان راوړي ، نو هغه به خامخا د ده مبارک ټولې ښودل شوې خبرې مني ، او د الله تعالی کتاب کوم چې پیغمبر راوړی دی پرهغه به هم خامخا ایمان راوړي، او ټولې هغه خبرې چې په ایمان مفصل کې یې یادونه راغلې د الله تعالی له کتاب قرانکریم او د پیغمبر له وینا وو احادیثو څخه ثابتې شوې هرو مرو مني.

۵۱- پـوښـتـنه: که یو څوک ددې ټولو خبرو په زړه سره یقین اوژبه سره اقرار وکړي ، خو لمونځ نه کوي او یا زکاة نه ورکوي یا روژه نه نیسي، یا حج نه کوي هغه مسلمان دی ؟

۵۱- ځـواب: هو ! مسلمان دی خو سخت ګناه ګار او له الله تعالی نه باغي دی ، داسې مسلمان ته فاسق وا یي، دوی به لومړی د خپلو ګناوو په سزا رسول کېږي بیا به خلاصون مومي.[1]

---

[1] (مأخذ د مفتي کفایت الله صاحب کتاب -تعلیم الاسلام).

# نهم فصل: د اهل السنت والجماعت عقائد

الحمدلله رب العالمين و العاقبة للمتقين و الصلوة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين و على اله و اصحابه اجمعين.

فان الله تعالى ارسل رسوله محمد صلى الله عليه وسلم بالهدى و دين الحق ورحمة للعالمين – بين به و بما انزل عليه من الكتاب و الحكمة كل ما فيه صلاح العباد و استقامة احوالهم في دينهم و دنيا هم من العقائد الصحيحة و الاعمال القويمة و الاخلاق الفاضلة و الأداب العالية و نسال الله تعالى ان يثبتنا و اخواننا المسلمين بالقول الثابت في الحيات الدنيا و في الآخرة و ان يهب لنا منه رحمة انه هو الوهاب و هو علي كل شئ قدير.

اما بعد ؛ د اهل السنت و الجماعت عقيده په لاندې ډول ده، ځان ور باندې پوهول ضروري او لازمي کار دی.

کلمه طيبة: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ.

ژباړه: له الله جل جلا له نه پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، محمد صلى الله عليه وسلم د الله جلّ جلا له رسول دی.

کلمة شهادة: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

ژباړه: شاهدي ورکوم چې له الله جلّ جلاله نه پرته بل دعبادت وړنشته هغه يودی ،شريک نه لري او دا شاهدي ورکوم چې محمدصلى الله عليه وسلم دهغه بنده او استازی رسول دی.

مجمل ايمان: آمَنْتُ بِاللهِ كَمَا هُوَ بِأَسْمَائِهِ وَ صِفَاتِهِ قَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحكَامِه، اِقْرَارٌ بِاللِّسَانِ وَ تَصْدِيْقٌ بِالْقَلْبِ.

ژباړه: ايمان مې راوړی دی پريوه الله جلّ جلا له باندې لکه څنګه چې دی له خپلونومونواوصفتونو سره ،او ما قبول کړې دي دده ټول حکمونه، دا اقرار په ژبه او باورپرزړه کوم

مفصل ايمان: اٰمَنْتُ بِاللهِ وَمَلٰئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ مِنَ اللهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ.

ژباړه: ايمان مې راوړی دی پر يوه الله جلّ جلا له باندې ، او د هغه پر ملائکو باندې ، او د هغه پر کتابونو باندې ، او د هغه پر رسولانو باندې ، او پر ورځ د قيامت باندې او پر تعيين د خير او شر چې دا تعيين د الله جل جلا له له لوري دی ، او تر مرګ وروسته پر بيا ژوندي کېدلو باندې

۱: پوه شه چې دا ټول موجودات لکه: لمر، سپوږمۍ، اوبه، عرش وغيره موجود نه وو ، وروسته دوی په مناسبو وختونو کې له هيڅ څخه پيدا کړل شول؛ نو هغه ذات چې له نيست څخه يې موجودات پيدا کړل ، دا نظام يې رامنځ ته کړ، هغه ته الله تعالى ويل کېږي.

۲: دغه ذات چې موجودات يې پيدا کړل؛ ژوندی دی، عالم دی، قدرت لرونکی دی، اختيار او اراده لري. دا ناممکنه ده چې داسې ذات چې سلسله د وجود يې پيل کړې وي، بې علمه ، بې قدرته ، مجبور او بې اختياره وي.

۳: دغه ذات اوري،ويني، ګوري، خبرې کوي او په ټولو کمالاتو او ښو صفتونو سره ستايليږي، داسې ذ
چې کوڼ وي، ړوند وي، محتاج او عيب لرونکی وي؛ هغه نشي خدای کېدلای.

۴: الله تعالی يو دی، نه په ذات، نه په صفاتو، نه په افعالو کارونو نه په عباداتو او نه هم په کمالاتو کې شري
لري.

الله تعالی داسې ذات دی چې ازلي دی، د هميشه لپاره وو او وي به. هر شی ده ته محتاج دي، خو دی هيڅ څيز ته
ندی محتاج.

بې له الله تعالی بل د عبادت لايق او حقدار نشته. بې له الله تعالی بل داسې ذات نشته چې تل ژوندی وي،
بې ذاتي وي، کسبي نه وي. بې له الله تعالی داسې ذات نشته چې په هرڅه په هر وخت کې خبر وي، قدرت
ذاتي وي، او په هر وخت کې هر څه کولای شي، اراده يې ذاتي وي او چې د څه اراده وکړي؛ خامخا يې کولا
شي. الله تعالی داسې ذات دی چې هرڅه په هر وخت کې اوري، په يوه وخت کې ټول شيانويني، په يوه وخت کې
له هر چا سره خبرې کولای شي.

بې له الله تعالی بل داسې ذات نشته چې له نيست څخه کوم شی پيدا کړي، بې له الله تعالی بل داسې ذات نشته
چې د هغه غايبانه عبادت وشي او په دې عقيده چې معبود يې پر ده خبر دی او په عبادت کوونکي کې هر ډول
تصرف کولای شي، عبادت کوونکي ته ګټه او تاوان رسولای شي.

۵: الله تعالی نه اولاد لري، نه مور، پلار، ښځه او سيال.

۶: الله جل جلاله له هر آفت څخه ساتونکی دی، عزت او ذلت دده په لاس کې دی.

۷: تقدير حق دی يعني الله جل جلاله د مخلوقاتو له پيدا کولو او جوړولو څخه مخکې په غياب کې د هر شي
حق کې يوه اراده او فيصله کړې ده.

۸: الله جل جلاله څه مخلوق له نور څخه پيدا کړي او زمونږ له نظر څخه يې پټ کړي دي چې ملايکې ورته و
کېږي. دوی ته الله تعالی ډېر کارونه ور سپارلي او د الله تعالی په اذن سره يې کوي. د الله تعالی نافرماني نه کو
مور، پلار او اولاد نه لري او په غيبو نه پوهيږي.

۹: الله تعالی څه مخلوقات له اور څخه پيدا او زمونږ له نظره يې پټ کړې دي، دوی ته پيريان وايي. پيريانو
فرمانبرداره او نافرمانه، جنتيان او دوزخيان شته. مور، پلار او اولاد لري او پر غيبو نه پوهيږي.

۱۰: الله جل جلاله په خپل فضل او کرم سره زمونږ د هدايت او د نجات لپاره ډېر پيغمبران عليهم السلام رالي
دي چې هغوی بشر او انسانان دي. الله جل جلاله ورته دهغو امورو چې الله جل جلاله په راضي کېږي او په ه
امورو چې الله جل جلا له په ناراض کېږي؛ وحې کوي او دوی يې بيا مونږ ته رارسوي.

۱۱: انبياء عليهم السلام ته علم غيب نه دی ورکړل شوی، غيب معلومول ددوی په اختيار کې نه دی. الله جل جلا
دوی ته په ډېرو پټو شيانو علم ورکړيدی خو پر ټولو شيانو باندې يې علم نه دی ورکړی.

۱۲: انبیآء علیهم السلام ریښتیني دي،د هر ډول ګناهونو څخه پاک او معصوم دي، هم مخکې تر نبوت او هم وروسته تر نبوت.

۱۳: انبیآء علیهم السلام د مړه کیدو څخه وروسته په خپلو قبرونو کې ژوندي دي چې پوره کیفیت یې الله جل جلاله ته معلوم دی. البته ظاهر د کلام د سلفو صالحینو رحمة الله علیهم دادی چې ددوی ارواح خپلو بدنونو ته واپس کړای شوي دي، ددوی مرګ د ژوند سره یوځای کیدل داسی دي لکه ددوی خوب چې دویښتیا بیداری سره یوځای شي.

۱۴: د انبیآء علیهم السلام عدد او شمار الله جل جلاله ته معلوم دی په یوه روایت کې یولک څلورویشت زره ۱۲۴۰۰۰ پېغمبران او درې سوه دیارلس ۳۱۳ رسولان دي، اول پېغمبر حضرت آدم علیهم السلام دی چې اولین انسان دی.وروستی پېغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی چې خاتم الانبیآء علیهم السلام دی. دده څخه وروسته منصب د نبوت چاته نه ورکول کېږي دده د نبوت حدود تر قیامته پوری باقي دي.

۱۵: حضرت محمد صلی الله علیه وسلم انسان، بشراوسید البشر د انسانانو سردار دی. په قرآن شریف کې محمد صلی الله علیه وسلم ته نور او رڼا هم ویل شوې ده. لکه چې بشر ورته ویل شوی دی، په دواړو کې که د یوه څخه چا انکار وکړ؛ هغه کافر دی. نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم بذات خود بشر دی او د ټول جهان روښان کونکی او هادي هدایت کونکی دی. داسې نه چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله په شان نور دی. داسی انګېرل کفر دی او داسی نه چې د ملائکة علیهم السلام په شان نور دی ځکه رسول الله له خپلې لوړې درجې راښکته کول دي.

۱۶: حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ویښه د شپې په یوه حصه کې دمکې معظمې څخه تربیت المقدس پورې او د بیت المقدس څخه تر سدرة المنتهی پورې او تر هغه ځای پورې چې الله جل جلاله ته معلوم دی، تللی دی او بیا بېرته مکې معظمې ته راغلی دی، دې واقعې ته معراج او اسرآء هم وایي.

۱۷: حضرت عیسی علیه السلام د الله جل جلاله رسول دی نه الله دی او نه د الله جل جلاله زوی دی. بې له پلاره الله جل جلاله په خپل قدرت سره پیدا کړیدی لکه چې حضرت آدم علیه السلام یې بې له موره او پلاره پیدا کړیدی. حضرت عیسی علیه السلام سره له بدنه آسمان ته پورته کړای شوی دی او په آسمان کې ژوندی دی، مسیح موعود دی او په آخره زمانه کې چې د مهدي علیه السلام د خلافت دوره به وي؛د باغي دجال او ظالم پاچا د مقابلې او وژلو لپاره بېرته راښکته کېږي.۷کاله به له مهدي علیه السلام سره یوځای تیرکړي، بیا به مهدي علیه السلام وفات او عیسی علیه السلام به ۳۳ کاله پاچاهي وکړي. بیا به وفات کفن او دفن شي.

۱۸: د انبیآء علیهم السلام معجزې او د اولیاوو کرامو رحمة الله علیهم کرامتونه حق دي. هم په ژوندانه او هم وروسته له مرګه.

۱۹: بې له الله جل جلاله څخه بل چاته سجده کول، نذر کول یا مالک د حِل او د حرمت منل شرک دي.

۲۰: ولي که هر څومره لوی شي د نبي یا صحابي مرتبې ته نه شي رسېدلای.

۲۱: صحابه رضي الله تعالی عنهم ټول عادلان دي، ددوی څخه ګناه نه کیدل او که ورڅخه وشول، پر هغه باندې اصرار او همیشه والی نه کوی. ددوی محبت او پر دوی ښه ګمان کول ضروري دی. ددوی ترمنځ چې کم اختلاف راغلې دي، دا اجتهادي او د رایې اختلافات دي.

۲۲: حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه او هغه اصحابو رضی الله تعالی عنهم ته چې دده معاونین وو؛ باغیان نه ویل کېږي که څه هم چې باغي عام لفظ دی. باغي هغه زیاتی کوونکې ته هم ویل کېږي چې دیده او پوه په ناحقه روان وي او هغه زیاتی کوونکې ته هم ویل کېږي چې دی ځان ته په حقه وایي خو په حقیقت کې دی خطاء شوی وي. په عام عرف کې باغي هغه چاته ویل کېږي چې دیده او پوه وي، مګر په ناحقه روان وي لکه قاتل، په عربي ژبه کې هغه چاته ویل کېږي چې قتل یې کړی وي که په حقه وي یا ناحقه. خو په عرف عام کې قاتل هغه چاته ویل کېږي چې په ناحقه یې قتل کړی وي.

۲۳: په ټولو اصحابو رضی الله تعالی عنهم کې افضل حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه دی او هغه خلیفه برحق او خلیفه بلاعوضه دی، ورپسې حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه دی، ورپسې افضل حضرت عثمان جامع آیات القرآن رضی الله تعالی عنه دی، بیا افضل حضرت علی بن ابی طالب اسد الله کرم الله وجهه دی. حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه کاتب د وحې دی او وروسته تر مصالحت د حضرت حسن رضی الله تعالی عنه سره امیر المومنین اجماعي دی.

۲۴: الله تعالی د جبرائیل علیه السلام په واسطه یوسل او څلور کتابونه را لیږلي دي چې څلور یې تورات، انجیل، زبور، فرقان پکې مشهور دي. فرقان وروستی کتاب او له تحریف څخه خوندي دی. نور کتابونه چې تحریف شوي دي، په هغو کې د الله تعالی د کلام او غیر کلام توپیر نشي کېدای. دا نور کتابونه قرانکریم منسوخ کړې دي.

۲۵: د قرآنکریم داسې معنی کول چې نه په قرانکریم کې وي، نه په احادیثو کې او نه هم سلف صالحینو کړې وي او د هغوی له معناګانو سره ټکر ولري؛ معنوي تحریف دی.

۲۶: الله تعالی په قرآن مجید کې څلور قسمه دلایلو ته رهنمایيکړېده اول قرآن دی دویم احادیث دی دریم سبیل المؤمنین اجماع ده څلورم اعتبار قیاس دی په دې څلورو سره اقسامو کې د هر یوه قسم څخه چې چا انکار وکړ نو ده په حقیقت کې د قرآن څخه انکار وکړ.

۲۷: لکه څنګه چې د احادیثو حجت له قرانکریم څخه په واضح ډول معلوم دی، منکر یې بې له شکه او شبهې کافر دی.

۲۸: قرآن او اسلام ته بې فایدې نظام او وروسته پاتې نظام ویل کفر دی.

۲۹: د دجال راوتل حق دي. دجال یو انسان دی چې د سمندر په ټاپو کې بندي دی، په آخره زمانه کې به راووځي، خدایي دعوه به وکړي. د حجاز له سیمې پرته به پر ټوله ځمکه قبضه وکړي او د عیسی علیه السلام لخوا به ووژل شي.

۳۰: د یاجوج او ماجوج راوتل حق دي، یاجوج او ماجوج دوه قومونه، د نوح علیه السلام د یافث زوی اولاد دی هماغسې چې ترک د یافث اولاد دی دوی د سمندر په ټاپوګانو کې دي یا په وچه کې تر اوسه يې په انسانانو حمله نه ده کړې، په وروستۍ زمانه کې به په انسانانو حمله وکړي او مونږ به يې وپېژنو. دوی به د عیسی علیه السلام په ښیرا سره هلاک شي.

۳۱: له مغرب څخه د لمر راختل حق دي، په وروستۍ زمانه کې به یوه ورځ لمر ډوب او له مغرب څخه به را وخېژي د اسمان ترمنځ پورې به راشي.

۳۲: د دابة الارض راوتل حق دي، دابة الارض یو چارپای دی چې له مځکې څخه به یا په مکه معظمه یا بل ځای کې راووځي، خبرې به کوي.

۳۳: د قبر تنګوالی، د نکیر او منکر سوال او ځواب، د قبر روحي او جسماني عذاب حق دی.

۳۴: قیامت حق دی، یعنې ددې عالم او نظام ختمیدل، د ټولو ژوندیو مړینه او بیا د ټول عالم پیدا کول او څلو ښت کاله وروسته بېرته د مړیو ژوندي کېدل حق دي.

۳۵: حساب، تله او د عملونو او عملنامو تلل، صراط، حوض کوثر او شفاعت حق دي.

۳۶: جنتونه او دوزخونه حق او پیدا شوي دي، خلک به د قیامت په ورځ ور دننه کېږي. جنتونه به همیش او مسلمانان به تل پکښې وي، همداسې دوزخونه به تل او کافران به همیش پکښې وي.

۳۷: الله تعالی بغیرد باقاعده توبې څخه کفر او شرک نه ښښي او نور ګناهونه که وغواړي، ښله توبې يې هم ښښي.

۳۸: د جنت څخه د الله تعالی دیدار او د سر په سترګو يې لیدل حق دي.

۳۹: په صالحینو سره توسل حق دی، توسل اګر که په ظاهر کې په ذات د صالحینو سره دی لیکن دا په حقیقت کې ددوی په نیکو اعمالو، ددوی په محبت، ددوی په جاه او یا ددوی په شوکت سره دی.[1]

---

۱ مأ خذ: دحضرت مولانامفتي محمد فرید صاحب رحمه الله رسالة د اهل السنت و الجماعت عقاید اسلامیه.

## دویم باب طهارت

## لومړی فصل داوداسه فرضونه

په اوداسه کې څلور فرضونه دي:

۱-مخ پریمنځل د سر د وېښتانو د راشنه کېدلو له ځایه نیولې بیا د زنې تر لاندېنۍ برخې پورې او د یوه غوږ نرمۍ څخه نیولې بیا د بل غوږ تر نرمۍ پورې.

۲-دواړه لاسونه سره له څنګلو پریمنځل.

۳-د سر د څلورمې برخې مسح کول.

۴-دواړه پیښې سره له بجلکو پریمنځل.[1]

## دویم فصل د اوداسه سنتونه

په اوداسه کې دیارلس ۱۳ سنتونه دي:

۱- د اوداسه نیت کول.

۲-داوداسه په پیل کې بسم الله الرحمن الرحیم ویل.

۳- له مړوندو سره د دواړو لاسونو پریمنځل.

۴- د مسواک وهل.

۵- د خولې درې ځله مینځل غړغړه.

۶- په پوزه کې درې ځله اوبه اچول.

۷- د ږیرې خلالول.

۸- دلاسونو او پښو دګوتو خلالول.

۹- هر اندام درې ځله مینځل.

۱۰- د ټول سر مسح کول.

۱۱- د دواړو غوږونو مسح کول.

---

[1] نور الایضاح ۲۰ صفحه.

۱۲- د اندامو پرلپسې مینځل چه یو وچ شوی نه وي د بل مینځل.

۱۳- په ترتیب سره اندامونه مینځل یعني لومړی مخ بیا لیچې مینځل. بیا د سر مسح کول او په پای کې پښې پریمنځل. [۱]

## دریم فصل د اوداسه مستحبات

۱- د اندامونو مینځلو پرمهال له راسته او ښي اندامه شروع کول.

۲- د غاړې مسح کول.

۳- د بل چا له مرستې پرته اودس کول.

۴- قبلې ته مخامخ کېناستل.

۵- پر پاک او لوړ ځای باندې اودس کول. [۲]

## څلورم فصل د اوداسه مکروهات

په اوداسه کې اووه ۷ شیان مکروه دي:

۱- پر ناپاک ځای اودس کول.

۲- په راسته لاس پوزه پاکول او سوخ کول.

۳- په اوداسه کې دنیوي خبرې کول.

۴- په اوداسه کې بې له ضرورته له بل چا نه مرسته غوښتل.

۵- ډېرې اوبه کارول او یا کمې پکې کول.

۶- پر مخ او نورو اندامونو په زوره اوبه شیندل.

۷- د سر په مسح کې تکرار کول. [۳]

---

[۱] شروط الصلواة ۲ صفحه. نور الایضاح ۲۲ صفحه. الرد المحتار ۱۰۲ .

[۲] در الحکام شرح غر الاحکام ص ۱۱.

[۳] نور الایضاح ۲۴ مخ.

## پنځم فصل د اوداسه ماتوونکي

په اتو ۸ شیانو سره اودس ماتیږي

۱-غټې او تشې بولې کول او یا دهمدې دوړو او غټو بولو له ځایونو څخه د بل څه وتل.

۲- د شا له خوانه باد خارجیدل.

۳- د بدن له یو ځای څخه د وینې یا نوونو او یا ژیړو اوبو بهېدل.

۴- په ډکه خوله قی او ګانګې کول.

۵- په پریوتلو یا ډډه وهلو سره ویده کېدل.

۶- بیهوشه کیدل.

۷- لیونتوب.

۸- په داسې لمانځه کې په زوره خندل چې روکوع او سجده ولري.[1].

## شپږم فصل د اوداسه د برخې تمرین

د اوداسه د برخې له پای ته رسیدلو وروسته دې استاذ له زده کوونکو څخه لاندې پوښتنې وکړي تر څو دغه عملي تمرین وشي:

۱-پوښتنه: په اوداسه کې څو فرضونه دي؟

۲-پوښتنه: آیا په اوداسه کې د ټول سر مسح کول فرض دي؟

۳-پوښتنه: لیچې تر کومه ځایه مینځل فرض دي؟

۴-پوښتنه: په اوداسه کې نیت کول فرض دي که سنت ؟

۵-پوښتنه: په اوداسه کې اندامونه څو ځله مینځل سنت دي؟

یوه ورځ دې استاذ د زده کونکو تر مخ په داسې ډول اودس وکړي چې پکې ټول سنتونه او مستحبات رعاینت، له مکروهاتو ځان وساتي.[2]

---

[1] الهدایه ۱۷ صفحه. نور الایضاح ۲۵ صفحه.

[2] الرد المحتار على الدر المختار: ج: ۱/ص: له ۲۱۶ تر ۳۰۰/ط: رشدیه.

## اووم فصل د غسل فرضونه

د غسل فرضونه درې دي:

۱. د خولې پرېمینځل دي غړغړه.

۲. د پوزې پرېمینځل دي استنشاق.

۳ د ټول بدن پرېمینځل دي.[۱]

## اتم فصل د غسل سنتونه

په غسل کې شپږ شیان سنت دي:

۱ په بسم الله سره پیل کول.

۲. نیت کول.

۳ تر مړوندونو پورې د دواړو لاسونو پرېمنځل.

۴ استنجا کول. او په بدن کې چې پرې کوم ځای نجاست او پلیتي وي له هغه ځای نه دناپاکی لرې کول.

۵. د غسل په پیل کې اودس کول. لومړی سر بیا ښی او ږه مینځل او د بدن مښل.

۶ په ټول بدن باندې درې ځلې اوبه تېرول.[۲]

## نهم فصل د غسل مکروهات

په غسل کې څلور شیان مکروه دي:

۱- د اوبو په استعمال کې اسراف او کمی کول.

۲- په بربنډ حالت کې خبرې کول.

۳- قبلې ته مخ ګرځول. ۴- د سنت خلاف غسل کول.[۳]

---

- الهدایه ۱۷ صفحه. البحر الرائق ۴۷صفحه.

الهدایه ۱۷ صفحه. نور الایضاح ۲۹ صفحه.

۳- ردالمختار علی الدار المختار: ج: ۱/ص: له ۳۱۱تر۳۴۴ط: رشیدیه. نور الایضاح ۲۹ مخ.

## لسم فصل د غسل واجبوونکي

۱ د منیو وتل په شهوت سره په حالت د بیداری او یا خوب کې چې په هر سبب باندې وي

۲- د نارینه د تناسلي اندام داخلېدل په یو د دوه لارو کې که مني خارج شي او که نه.

۳- د حیض پای ته رسېدل (هغو وینو ته وا ییچې له زنانه وو نه د میاشتني عادت پر مهال خارجېږي).

۴- د نفاس پای ته رسېدل (هغه وینه ده چې له ولادت د ماشوم څخه وروسته له زنانه وو نه خارجېږي).[1]

## یوو لسم فصل د غسل تمرین

کله چې د غسل بیان پای ته ورسید لو نو استاذ دې له زده کوونکو څخه لاندې پوښتنې وکړي:

۱-پوښتنه: د غسل فرضونه ټول څو دي؟

۲-پوښتنه: په غسل کې له بدن څخه ناپاکي لرې کول سنت دي که فرض؟

۳-پوښتنه: آیا پر ټول بدن درې ځله اوبه تویول فرض دي که سنت؟

۴-پوښتنه: په غسل کې د قبلې لور ته مخ کول سنت دي که مستحب؟

## دولسم فصل مسح

که وجود زخم ، دانه یا جراحت ولري او د اوبو رسیدل ورته مضر واقع کېږي په دې صورت کې مسح کول
دي، که څوک چرمي موزې ولري نو د سفر په حالت کې درې شپې او ورځې، او د اقامت په صورت کې یو
او ورځ په پښو مسح کولای شي، په دې شرط چې پس له اوداسه نه یې موزې په پښو کړې وي، باید ووېل
چې په غسل کې مسح په موزو صحیح نه ده.[2]

## دیارلسم فصل په موزو د مسحې طریقه

د لاس درې ګوتې په لمدې او د ګوتو له سرونو نه به یې پورته د پونډۍ طرف ته را کش کړي.

## څوارلسم فصل د تیمم بیان

چې کله اوبه نه وي یا د اوبو په کارولو ناروغي پیدا کېږي یا د ناروغۍ د زیاتوالي اندیښنه وي نو بیا به
وهي او کوم شیان چې د اوداسه ماتوونکي دي په هغو سره تیمم هم ماتیږي او همدا راز تیمم د اوبو په لیدو
چې پر استعمال یې قادر وي هم ماتیږي.

---

[1] الجوهرة النيرة ۱۱ صفحه. البحر الرائق ۵۵ صفحه.

[2] نور الايضاح ۳۶ صفحه. البحر الرائق ص ۱۷۳.

## پنځلسم فصل د تیمم تعریف

یمم په لغت کې په پاکه خاوره قصد او ارادې کولو ته وایي په هغه ځای کې چې اوبه نه وي یا یې استعمال مضر ي او یا هم اوبه وي خو سبب د هلاکت کېږي یا داچې شخص مریض وي د اوبو استعمال ورته ضرر رسوي په اسې حالاتو کې تیمم د اوداسه او غسل قایم مقام کیدای شي.[۱]

## شپاړسم فصل د تیمم لپاره شرائط

-د تیمم کولو لپاره د اوبو نه موندل.

-یا یو میل له اوبو نه لرې والی.

۳-د اوبو د شتون پر مهال د اوبو په استعمال قدرت نه لرل چې د اوبو په استعمال او غسل کولو سره یې یا اروغي زیاتېږي او یا یې کوم اندام له منځه ځي.

-او یا هم له دښمن څخه وېره وي.

۵-او یاهم که اودس وکړي د جنازې او یا اخترونو لمونځ فوت کېږي[۲].

## اوولسم فصل د تمیم فرضونه

-د تمیم لپاره نیت کول.

-یو ضرب د مخ د مسحې په خاطر.

-بل ضرب د لاسونو د مسحې لپاره تر څنګلو پورې[۳].

## اتلسم فصل د تیمم سنتونه

-په شروع کې بسم الله ویل.

-دواړه لاسونه هوار په ځمکه ایښودل.

-دضرب وهلو وخت کې د ګوتو خلاص نیول.

---

الفقه الاسلامي وادلته/ ج /۱/ص۵۶۰/.

البنایه في شرح الهدایه ج ۱ ص ۵۱۰.

الفقه الاسلامي وادلته جلد اول ۵۶۰ صفحه. البحر الرائق ص ۱۵۳.

۴- لاسونه په ځمکه له وهلو نه وروسته د هغو سترګو ته مخامخ کول ترڅو خاوره پرې زياته نه وي.

۵- د لاسونو ورغوي که خاوره ولري ټکان ورکول او څنډل.

۶- په ترتيب سره د مخ او لاسونو مسح کول.

۷- پر لپسې د مخ او لاسونو مسح کول[۱].

## نو لسم فصل د تيمم کولو طريقه

اول به تيمم کوونکی نيت وکړي چې د ناپاکۍ د لرې کولو او لمونځ کولو لپاره تيمم کوم وروسته به بسم ا ولولي دواړه لاسونه به په ځمکه باندې ووهي او که لاسونه په خاوره شول ټکان د ورکړي او بيا دې پرخپل م وموښي، بيا د لاسونه په ځمکه ووهي او دواړه لاسونه دې تر څنګلو پورې مسح کړي، که ګوته يا بل څه ول هغه د وباسي د ږيرې خلالول ضرور نه دي هر هغه څه چې د ځمکې له جنس څخه وي تيمم په هغه جايز دی لک خاوره ، تيږه ، خښته ، ريګ او داسې نور.

په ايرو تيمم جايزنه دی او هغو شيانو باندې چې د ځمکې له جنس څخه نه وي که په هغو باندې ګرد او غبار و تيمم پرې جايز دی لکه د انسان کالي او نور. هر چېرته چې اوبه پيدا شي تيمم ماتوي ټول هغه څه چې اود ماتوي تيمم هم ماتوي[۲].

## شلم فصل د تيمم د برخې تمرين

۱- پوښتنه: تيمم وهل څه وخت روا دي؟

۲- پوښتنه: په تيمم کې څو فرضونه دي؟

۳- پوښتنه: په تيمم کې نيت کول سنت دي که فرض؟

۴- ښوونکی دې يوه ورځ زده کوونکي سره راټول کړي او د دوی تر مخ دې په صحيح ډول تيمم ووهي تر څو زده کونکو په عملي بڼه تيمم زده شي.

## دريم باب لمونځ

## لومړی فصل د لمانځه فضيلت

۱. لمونځ د اسلام په ارکانو کې له کلمې وروسته دوهم رکن دی.

۲. لمونځ هغه عبادت دی چې په هر دين کې يې په اړه امر شوی.

---

۱ الفقه الاسلامي وادلته ۶۰۰ صفحه. البحر الرائق ص ۱۵۳.

۲ردالمختار على الدار المختار: ج: ۱/ص: له ۴۳۷تر۴۵۷ط: رشيديه.

۳. لمونځ هغه عبادت دی چې له پیله تر پایه په قول او فعل سره د الله رب العزت په عظمت او لوړ شان دلالت کوي.

۴. لمونځ د دین ستن ده او په ټولو عبادتونو کې غوره او بهتر عبادت دی.

۵. الله تعالی ته د نزدې کېدو او جنت ته د تلو ذریعه ده.

۶. له الله تعالی سره د بنده مناجات او هغه ته د خپل عجز او احتیاج څرګندونه ده.

۷. له ناوړه اعمالو او ګناهونو څخه د ځان ژغورلو ذریعه ده.

۸. د الله رب العزت د بې شمېره نعمتونو شکر اداء کول دي.

۹. لمونځ هغه عبادت دی چې د قیامت په ورځ یې لومړی پوښتنه کېږي.

۱۰. لمونځ د مصیبت پر وخت د صبر ذریعه ده.

۱۱. د رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته اخري وصیت د لمانځه په اړه و.

۱۲. لمونځ سره زړه د الله عظمت ته متوجه وي

۱۳. لمونځ چې په حضور قلبي سره ادا شي ټول ګناهونه ورته ببښل کېږي

۱۴. د لمانځه په سمه توګه ادا کولو سره سړي ته نشاط او راحت حاصلېږي

۱۵. لمونځ د بدن لپاره هم ریاضت دی وربانديې تقویه کېږي او د روح لپاره هم، پیاوړتیا ورته نصیب کېږي

۱۶. لمانځه سره د مومنانو تر منځ نظافت عمومیت پیدا کوي

۱۷. لمونځ د مسلمانانو تر منځ د یو والي، مرستې او یکجهتۍ روحیه پیاوړې کوي

۱۸. په یوه شپه او ورځ کې پنځه ځله لمانځه ادا کولو سره د مسلمان روح پاکېږي، زړه څخه یې غفلت لرې کېږي، د ژبې له خطایانو څخه محفوظ کېږي او نور اندامونه یې هم له نورو بې باکې و څخه خوندي کېږي

۱۹. په لمانځه کې په طبعي توګه دا قوت شته چې د مومن زړه ژوندی کړي د خیر په لوري یې وهڅوي او له شرونو څخه یې محفوظ کړي.[۱]

---

(۱) (العبادة في الإسلام للقرضاوي (۲۲۱))

## دویم فصل د لمانځه فرضیت

د لمانځه فرضیت په کتاب الله، سنت او اجماع سره ثابت دی په قرآنکریم کې د لمانځه د فرضیت په اړه زیات آیاتونه شته چې الله تعالی خپلو بنده ګانو ته په لمانځه سره امر کوي، الله تعالی فرمایي:

فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ هُوَ مَوْلَاكُمْ فَنِعْمَ الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ (۷۸) [۱]

ژباړه: لمنځونه قائم کړئ د مالونو زکاتونه ورکړئ او د الله تعالی په دین باندې منګولې ولګوئ؛ ځکه ستاسو دوست بهتره کارساز او ښه مرسته کوونکی دی.

همدا رنګه په حدیث د ابن عمر رضی الله عنهما کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

بُنِيَ الإسلام على خمس: شهادة أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله، وإقام الصلاة، وإيتاء الزكاة، والحج، وصوم رمضان [۲]

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: اسلام په پنځو شیانو بناء دی: په دې خبره ګواهي ورکول له تعالی پرته بل د عبادت وړ نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه رسول دی او د لمونځ قایمول او د زکات ورکول او حج کول او د رمضان روژه نیول.

همدا رنګه ټول امت د لمانځه په فرضیت اجماع کړې ده د لمونځ فرضیت په مکه مکرمه کې د نبوت له پیل ځ شروع دی لومړی په شپه او ورځ کې دوه ځله سهار له لمر ختلو مخکې او مازدیګر د لمر پرېوتلو مخکې لمو فرض و. خو له هجرت څخه یو نیم کال مخکې د معراج په شپه د رمضان په اوولسم تاریخ چې کله نبي کریم ص الله علیه وسلم معراج ته تشریف یووړ هلته په اول ځل په شپه او ورځ کې پنځوس لمنځونه او بیا د رسول صلی الله علیه وسلم په بیا بیا غوښتنه پنځه لمنځونه پاتې شول.

## دریم فصل د لمانځه اهمیت

لمونځ په اسلام کې د هر مهم عبادت دی تر دې چې په هېڅ حالت کې مسلمان ته د لمانځه د پرېښودلو اجازه نش . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې ماشوم ته باید په اووه کلنۍ باندې لمونځ وښودل شي اوبانځ لمونځ په اداء کولو ورته امر وشي او په لس کلنۍ د لمانځه په نه کولو ووهل شي.

لمونځ په مسلمان باندې په هر حالت کې فرض دی د مرض په حالت کې، د سفر په حالت کې، د امن په حالت کې دوېرې په حالت کې، تر دې چې په قران او حدیثو کې د وېرې په حالت کې د لمانځه ځانګړي احکام بیان شوي همدا رنګه د سفر د لمانځه او د مریض د لمانځه احکام په تفصیل سره بیان شوي دي له دې نه معلومېږي لمونځ په شریعت کې مهم عبادت دی چې په هېڅ حالت کې یې پرېښودل روا نه دي که یو څوک مریض وي ولاړه لمونځ نه شي کولای ده ته د لمانځه پرېښودل جائز نه دي، بلکې دی باید په ناسته لمونځ وکړي او که ناسته یې هم نه شي کولی نو په اشاره سره دې وکړي.

۱) (الحج: ۷۸ )

۲ صحیح البخاري صفحه۱۱.

او همدارنګه د لمانځه پرېښودونکې ته په قران او حدیث کې زیات وعید بیان شوی علماء فرمايي که یو څوک د لمانځه له فرضیت څخه منکر شي کافر ده، حکم يې د مرتد دی، که چېرې د تل لپاره د لمانځه له فرضیت څخه منکر وي نو باید ووژل شي.

او که له عذر پرته د سستۍ له امله يې قضاء کړ نو فاسق بلل کېږي باید د اسلامي حکومت له خوا بندي کړی شي تر څو د لمانځه اداء کول شروع کړي او یا دومره ووهل شي چې وینې يې وبهېږي د نورو مذاهبو امامان وايي باید ووژل شي.

## څلورم فصل په لمانځه سره ګناهونه معاف کېږي

له ابوهریرة رضی الله تعالی عنه نه روایت دی هغه ویلي: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اورېدلي:

أرأيتُمْ لَوْ أنَّ نَهْراً بِباب أحَدِكم يغْتَسِلُ مِنْه كُلَّ يَوْمٍ خَمْس مرَّات هلْ يبْقى مِنْ دَرَنِه شَيءٌ؟ قالُوا: لا يبْقَى مِنْ درنِهِ شَيْء قال: فذلكَ مَثَلُ الصَّلَواتِ الخَمْس يمْحُو اللَّهُ بهِنَّ الخطَايا[١].

ژباړه: ځواب راکړئ که چېرې په تاسو کې د یو تن په دروازه کې ویاله وي چې په هغه کې هره ورځ پنځه ځلي ځان مینځي ایا د هغه په بدن به څه خیرې پاتې شي؟ هغوي وویل: د هغه په بدن هېڅ خیرې نه پاتې کېږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دا د پنځو لمونځونو حال دی، الله جل جلاله په دې پنځو لمونځونو سره ګناهونه له منځه وړي. حدیث مسلم او بخاري روایت کړی

حضرت جابر رضی الله تعالی عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

مَثَلُ الصَّلواتِ الخَمْسِ كمثَلِ نهْرٍ غمْرٍ جارٍ عَلى باب أحَدِكُم يغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خمْسَ مرَّاتٍ[٢].

د پنځو لمنځونو مثال داسې دی لکه یو ژور نهر چې د کور دروازې مخې ته مو وي او په ورځ کې پنځه ځله پکې غسل کوي.

فائده: ۱: څوک چې پنځه وخته لمونځ کوي د هغه به ټول صغیره ګناهونه ښنل کېږي.

۲. په اوبو سره د بدن ظاهر پاکېږي، په نېکو عملونو سره د بدن باطن پاکېږي.

له ابن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی چې یو سړي یوه ښځه ښکل کړې وه نبي صلی الله علیه وسلم ته راغی هغه يې خبر کړ، الله جل جلاله دا آیت نازل کړ.

﴿وأَقِمِ الصَّلاةَ طَرَفَيِ النَّهَار وَزُلَفا مِنَ اللَّيْل إِنَّ الْحسَناتِ يُذهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾ فقال الرَّجُل: أَلِي هذا؟ قال: لجميع أُمَّتي كُلِّهِمْ[٣].

---

١متفقٌ علیه.
٢رواه مسلم.
٣متفقٌ علیه.

ژباړه: د سهار، ماسپښین، مازیګر، ماښام، او ماسخوتن لمونځ وکړه بیشکه چې ښېګنې ناوړه کارونه له منځه وړي، هغه سړي وویل: ایا دا یوازې زما لپاره دی؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زما د ټول امت لپاره دی.

له ابو هریرة رضي الله عنه نه روایت دی هغه ویلي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:

الصَّلواتُ الخَمْسُ والجُمُعةُ إلى الجُمُعَة كفَّارةٌ لما بَيْنَهُن ما لم تُغش الكَبَائِرُ (١).

پنځه لمنځونه او د جُمعې لمونځ د بلې جمعې تر لمانځه پورې، د هغو ګناهونو لپاره کفاره دي چې په منځ کې یې ترسره شوي، تر څو چې کبیره ګناهونه ونه کړل شي.

له عثمان بن عفان رضي الله عنه نه روایت دی هغه ویلي: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اورېدلي هغه وویل:

ما مِن امْرِيءٍ مُسْلِمٍ تحضُرُهُ صلاةٌ مَكتُوبةٌ فَيُحْسِنُ وُضوءَهَا وَخُشوعَهَا وَرُكُوعَها إلاَّ كانت كَفَّارةً لما قَبْلَهَا مِنَ الذنُوبِ ما لم تُؤتَ كَبِيرة وَذلكَ الدَّهرَ كلَّهُ (٢).

څوک چې فرضي لمانځه ته حاضرېږي په ښه توګه سره او دس کوي د اوداسه فرض، سنت او مستحب په ځای کوي په عاجزي او د ارکانو په ځای کولو سره لمونځ ترسره کوي، دغه لمونځ د هغه د تېرو ګناهونو لپاره له منځه وړونکی دی، تر څو چې کبیره ګناه نه وي ترسره شوي. ټول عمر به داسې وي.

## فائدې

۱. په لمونځ کولو سره صغیره ګناهونه له منځه ځي.

۲. په پنځه وخته لمونځ صغیره ګناهونه بښل کېږي که چېرې څه پاتې شي هغه د جُمعې په لمانځه بښل کېږي که پاتې نشي درجې یې پرې لوړېږي.

۳. کبیره ګناهونه له توبې کولو پرته نه بښل کېږي.

۴. په ښه اودس، عاجزي، سمې رکوع او سجدې سره لمونځ کول د بښنلو لامل ګرځي.

## پنځم فصل مسجد ته د تللو او په جمع سره د لمانځه ادا کولو فضیلت

له ابو هریرة رضي الله عنه نه روایت دی نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

مَنْ غدا إلى المسْجِدِ أَوْ رَاح أَعَدَّ اللَّه لهُ في الجَنَّةِ نُزُلاً كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ متفق عليه.[٣]

---

١ ) (رواه مسلم، برقم: ٥٧٢)
٢ رواه مسلم ٢٠٢.
٣ متفقٌ عليه .

څوک چې مسجد ته په سهار او ماښام کې لاړ شي هغه ته الله تعالی هر سهار او ماښام په جنت کې مېلمستيا تياروي

له ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

مَنْ تَطَهَّرَ فِي بَيْتِهِ ثُمَّ مَضى إِلى بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ لِيَقْضِيَ فَرِيضَةً مِنْ فَرائِضِ اللهِ كانَتْ خُطْواتُهُ إِحْداها تَحُطُّ خَطِيئَةً والأُخْرى تَرْفَعُ دَرَجَةً [1].

څوک چې په خپل کور کې ښه اودس وکړي، بيا د الله جل جلاله له جوماتونو نه يو جومات ته ورشي، چې د الله جل جلاله له فرضونو نه يوه فريضه پکې ادا کړي، د هغه يو قدم اخيستل يوه ګناه له منځه وړي او بل قدم يې يوه درجه اوچتوي.

له اُبَی بن کعب رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي: په انصارو کې يو سړی ؤ چې ما له هغه نه له جومات نه بل د لرې کور څښتن نه پېژندلو له هغه نه به هېڅ لمونځ نه تېرېدلو، هغه ته وويل شول: کاشکې تا کوم خر اخيستی وای چې په هغه به په تيارو او ګرميو کې سپرېدلې، هغه وويل: په دې چې زما کور د جومات په څنګ وي زه نه خوشحالېږم زه غواړم چې زما جومات ته تلل او خپل کور ته بېرته ګرځېدل په عمل پاڼه کې وليکل شي، رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل:

قَدْ جَمَعَ اللهُ لَكَ ذَلِكَ كُلَّهُ [2].

بېشکه الله جل جلاله تا ته دا هرڅه يوځای کړي. حديث مسلم روايت کړی.

## فوائد

۱. د لمانځه لپاره جومات تلل او راتلل دواړه په نيکو عملونو کې ليکل کېږي.

۲. جومات ته تلل او بېرته راتلل په جنت کې د مېلمستيا لامل ګرځي.

۳. جومات ته د قدم په اوچتولو سره ګناه ښنل کېږي يا يې رتبه پورته کېږي.

۴. څوک چې د ثواب لپاره له لرې ځايه جومات ته ځي او راځي الله جل جلاله ورته د تلو او راتلو دواړو ثواب او اجر ورکوي.

۵. غوره خلک جومات ته له لرې ځای نه په ورتلو خوښېږي.

له جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي: د مدينې د جومات شاو خوا ځمکه تشه شوه د بنو سَلِمة قبيلې وغوښتل چې جومات ته نږدې ورشي دا خبره نبي صلی الله عليه وسلم ته ورسېده هغوي ته يې وويل: ما ته خبر

---

[1] (رواه مسلم، برقم: ۱۵۵۳)
[2] رواه مسلم.

رسېدلای چې تاسو غواړئ جومات ته نږدې لاړ شئ؟ هغوی وویل: ای د الله جل جلاله رسوله ! همداسې ده مو دا اراده کړې هغه ورته وویل:

بَنِي سَلِمَةَ دِيارَكُمْ تُكْتَبْ آثارُكُم دِيارَكُمْ تُكْتَبْ آثارُكُمْ فقالوا: ما يَسُرُّنا أَنَّا كُنَّا تَحَوَّلْنا: [١] .

ای د سلمة کورنۍ ! په خپل ځای او سېږئ، ستاسو د پښو قدمونه اخيستل ليکل کېږي، هغوي وويل: په دې چ مونږ له دې ځايه لاړ شو خوشحاله به و نه ګرځو.

له ابو موسی رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل:

إِنَّ أَعْظَمَ الناس أَجرًا في الصَّلاةِ أَبْعَدُهُمْ إِلَيْها مَمْشًى فَأَبْعَدُهُم. والَّذي يَنْتَظِرُ الصَّلاةَ حتَّى يُصلِّيَها مَعَ الإمامِ أَعْظَمُ أَجرًا الذي يُصلِّيها ثُمَّ يَنامُ [٢].

په لمانځه کې د ستر اجر څښتن هغه دی چې تر ټولو له ډېر لرې ځايه ورځي. بيا هغه چې له نورو کسانو لرې و هغه څوک چې له امام سره د جمع لمانځه لپاره انتظار باسي له هغه چا څخه چې خپل لمونځ وکړي او بيا ويده ش د ستر ثواب څښتن دی.

## فوائد

۱.له جومات نه لرې کور جوړول غوره دي.

۲.څوک چې له جومات نه څومره ډېر لرې وي هغومره يې ثواب او اجر ډېر وي.

۳.د هغه چا ثواب چې د جمعې د لمانځه انتظار کوي د هغه چا له ثواب نه چې خپل لمونځ وکړي بيا ويده شي د دی.

له بُرَيدة رضي الله عنه نه روايت دی نبي صلی الله عليه وسلم و فرمايل:

بشِّروا المَشائِينَ في الظُّلَمِ إلى المساجِدِ بِالنور التَّامّ يَوْمَ القِيامَةِ. [٣]

: په تيارو کې جومات ته تلونکو ته د قيامت په ورځ په پول صراط د تېرېدو وخت کې د بشپړې رڼا په شتون س زيری ورکړئ.

## فوائد

۱.څوک چې په تيارو کې د سهار او ماخوستن لمنځونو ته جومات ته ځي، د قيامت په ورځ د صراط په پول تېرېدو په مهال به ورته داسې رڼا چې هره خوا به يې روښانه کړې وي حاصله شي.

---

۱ ) (رواه مسلم، برقم: ۱۵۵۱).

۲متفقٌ عليه .

۳ ) (رواه ابوداود ، برقم: ۵۲۱).

له ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

أَلا أَدُلُّكُمْ عَلى مَا يَمْحُو اللَّهُ بِهِ الخَطَايَا وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟ قَالُوا: بَلى يا رسولَ الله. قَالَ: إِسْبَاغُ الْوُضوءِ عَلى المكَارِهِ وَكَثْرَةُ الخُطَا إِلى المَسَاجِدِ وَانْتِظَارُ الصَّلاةِ بعْدَ الصَّلاة فَذلِكُمُ الرِّباط فَذلكُمُ الرِّباطُ [1].

هغه څه چې الله جل جلاله په هغه سره ګناهونه له منځه وړي درجې پرې لوړوي درته ونه ښايم؟ هغوی وويل: ای د الله رسوله ولې نه! وښيه! هغه وويل: په سخت وخت کې په سخته يخنۍ، تېزه ګرمۍ يا ناروغۍ په کامله او پوره توګه سره اودس کول د اوداسه فرض سنت او مستحب په ځای کول جوماتونو ته ډېر قدمونه اخيستل، له يو لمانځه وروسته د بل لمانځه انتظار کول دي، دا د اسلامي سرحد ساتنې له ثواب سره برابر عمل دی.

له ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي: نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

إذا رَأَيْتُمُ الرَّجُلَ يَعْتَادُ المَسَاجِد فاشْهدُوا لَهُ بِالإِيمَانِ قال الله عزَّ وجل: ﴿إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ﴾الآية. [2].

کله چې تاسو يو سړی وليد چې جومات ته تلل يې عادت وي هغه ته د ايمان په درلودلو سره ګواهي ورکړئ، الله جل جلاله ويلي: جوماتونه يوازې هغه کسان جوړوي چې په الله جل جلاله او په آخرت ايمان لري. حديث ترمذي روايت کړی او هغه ويلي: دا حسن حديث دی.

## فوائد

۱. په سخته يخنۍ، تېزه ګرمۍ يا ناروغۍ کې د اوداسه فرض سنت او مستحب په ځای کول، جوماتونو ته ډېر قدمونه اخيستل، له يو لمانځه نه وروسته د بل په تمه انتظار کول، ستر ثواب لري پدې سره ګناهونه له منځه ځي درجې پرې لوړېږي.

۲. د لمانځه لپاره جومات ته تلونکی سړی د ايمان خښتن دی.

۳. د فرضي عملونو په ترسره کولو سره انسان مؤمن ګڼل کېږي.

## شپږم فصل د جمع لمونځ له يوازې لمانځه نه اووه ويشت درجې غوره دی

له ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل:

صَلاةُ الجَمَاعَةِ أَفضَلُ مِنْ صَلاةِ الفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ درَجَةً. [3].

له ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل:

---

۱) (رواه مسلم، برقم: ۲۱۱)
۲) (رواه الترمذي، برقم: ۲۶۱۷)
۳) (متفقٌ عليه).

وعن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسولُ اللّهِ صلى الله عليه وسلم: صَلاةُ الرَّجُلِ في جَماعةٍ تُضعَّفُ على صلاتِهِ في بَيْتِهِ وفي سُوقِهِ خمساً وَعِشْرينَ ضِعفًا وذلكَ أَنَّهُ إذا تَوضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ خَرَجَ إلى المَسْجِدِ لا يُخْرِجُه إلاَّ الصَّلاة لَمْ يَخْطُ خطوةً إلاّ رُفِعَتْ لَه بِهَا دَرَجَة وَحُطَّتْ عَنْه بِهَا خَطِيئَة فإذا صَلى لَمْ تَزَلِ المَلائِكَة تُصلِّي عَلَيْهِ مَا دَامَ في مُصَلاَّه مَا لَمْ يُحْدِث تَقُول: صَلِّ عَلَيْه اللَّهُمَّ ارحَمْه. وَلا يَزَالُ في صَلاةٍ مَا انْتظَرَ الصَّلاةَ [1] .

د سړي لپاره په جمع لمونځ له هغه لمانځه چې په خپل کور او یا بازار کې یې وکړي پنځه ویشت برابره ګرځي، ځکه چې کله هغه اودس وکړي او ښه اودس وکړي د خپل اودا سه فرض سنت او مستحب پر ځای کړي بیا جوماتِ ته ووځي پر ته له لمانځه بل څه یې نه باسي یو قدم نه پورته کوي مګر په هغه سره یې یوه درجه لوړېږي، او یوه ګناه له منځه ځي، که لمونځ وکړي تر څو چې د لمانځه په ځای کې وي پرښتې ورته دعاګانې کوي، تر څو اودس نه وي مات شوی، هغوي وایي: ای الله جل جلاله ! رحم پرې وکړې، تر څو چې د لمانځه انتظار کوي هغه د لمانځه په حکم کې دی. حدیث مسلم او بخاري روایت کړی.

## فوائد

۱.د جَمع لمونځ په یوازې لمانځه اوو ویشت یا پنځه ویشت برابره ډېر ثواب لري.

۲.د جمع لمونځ د ښه اودا سه، جومات ته د تلو ، او لمانځه ته انتظار کولو له امله څو چنده ګرځي.

له ابو هریرة رضي الله عنه نه روایت دی هغه ویلي: نبي صلی الله علیه وسلم ته یو ړوند سړی راغی او ویې ویل: ای د الله رسوله ! زه څوک نه لرم چې ما جومات ته بوځي، له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه یې غوښتنه وکړه چې هغه ته په کور کې د لمونځ کولو اجازه ورکړي، هغه ته یې رخصت ورکړ کله چې هغه مخ واړاوه ببرته یې وباله او ورته یې وویل: ته د لمانځه آذان اورې؟ هغه وویل: هو ، رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وفرمایل:

هلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلاة؟ قال: نَعَم قال: فَأَجِبْ [2] .

د آذان کوون کې بلنه ومنه. حدیث مسلم روایت کړی.

له عبدالله نه دا سې هم ویل شوي له عمرو بن قیس نه چې په ابن ام مکتوم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم مؤذن سره مشهور ؤ روایت دی هغه وویل: ای د الله رسوله ! مدینه ماران لړمان او ځناور ډېر لري مطلب یې دا و که په کورکې راته دلمانځه د ادا کولو اجازه راکړې ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: تَسْمَعُ حَيَّ عَلى الصَّلاة حَيَّ عَلى الفَلاح فَحَيَّهَلاً. ۳ .

که حی علی الصلاة او حی علی الفلاح اورې لمانځه ته راشه

۱) (متفقٌ علیه وهذا لفظ البخاري).
۲) (رواه مسلم، برقم: ۱۵۱۸).
۳) (رواه النسائي، برقم: ۸۵۱ )

## فوائد

څوک چې په کور کې د آذان غږ اوري د هغه لمونځ له جوماته پرته نه کېږي.

د جمع لمونځ د لږو تکليفونو له امله نه پرېښودل کېږي.

له ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي:

الَّذي نَفْسِي بِيدِهِ لَقَدْ هَمَمْت أَن آمُرَ بحَطَبٍ فَيُحْتَطَب ثُمَّ آمُرَ بالصَّلَاةِ فَيُؤَذَّنَ لَهَا ثُمَّ آمُرَ رَجُلاً فَيَؤُمَّ النَّاس ثُمَّ أُخَالِفَ إِلى رِجَالٍ أُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بيوتهم متفقٌ عليه .

په هغه ذات چې زما ساه د هغه په لاس کې ده ما قصد وکړ چې زه د لرګيو په راوړلو امر وکړم، لرګي راوړل شي بيا په لمونځ کولو امر وکړم چې آذان ورته وکړل شي، بيا يو سړي ته امر وکړم چې خلکو ته لمونځ ورکړي، بيا هغو خلکو پسې چې لمانځه ته نه دي راغلي ورشم په هغوی د هغوی کورونه وسوځوم.

## فوائد

۱. رسول الله صلی الله عليه وسلم له هغو کسانو نه چې خپل لمونځ په کور کې کوي سخت خپه کېدلو تر دې چې د هغوی د کورونو سوځول يې مناسبه سزا ګڼله.

۲. امام بايد د هغو کسانو په اړه چې له عذر پرته جمع ته نه راځي لومړی نصيحت بيا سخته زورنه ورکړي تر څو هغوی سم او نور خلک د هغوی له تګلارې واوړي.

له ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي:

مَنْ سَرَّه أَن يَلْقَي الله تعالى غدًا مُسْلِمًا فَلْيُحَافِظْ على هَؤُلاءِ الصَّلَوات حَيْثُ يُنادَي بهن فَإِنَّ اللَّهَ شَرَعَ لِنَبِيِّكم صلى الله عليه وسلم سُنَنَ الهُدَى وَإِنَّهُنَّ مِن سُنَنِ الهدى وَلَو أَنَّكُمْ صلَّيْتم في بُيوتِكم كما يُصَلِّي هذا المُتَخلِّف في بَيتِهِ لَتَركتم سُنَّةَ نَبِيِّكم ولَو تَركتم سُنَّةَ نَبِيِّكم لَضَلَلْتُم ولَقَد رَأَيْتُنَا وما يَتَخلَّف عَنها إلاَّ منافق مَعْلُومُ النِّفَاق وَلَقَدَ كانَ الرَّجُل يُؤتَى بِه يُهَادَي بيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتَّى يُقَامَ في الصَّفِّ. ۱ .

وفي روايةٍ له قال:

إِنَّ رسولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عَلَّمَنَا سُنَنَ الهُدَى وَإِنَّ مِن سُنَنِ الهُدَى الصَّلَاةَ في المسَجدِ الذي يُؤَذَّنُ فيه.

څوک چې خوښوي چې الله جل جلاله سره د ربښتينې تابع داری په حالت کې مخامخ شي پنځه وخته لمنځونه دې په هغه جوماتونو کې چې آذان پکې کېږي په جمع سره ادا کړي، الله جل جلاله ستاسو نبي صلی الله عليه وسلم ته د هدايت او حق مونډنې لارې څرګندې کړي دا پنځه وخته لمونځ حق مونډنې له لارو چارو څخه دی، که تاسو په

---

۱) (رواه مسلم، برقم: ۱۵۲۰)

خپلو کورونو کې لمونځ وکړ لکه دغه منافق یې چې خپل کور کې کوي تاسو به د خپل نبي تګلاره پرېښې وي که تاسو د خپل نبي تګلاره پرېښوده هرومرو به ګمراهان او بې لارې شئ، مونږ به خپل ملګري لیدل پرته له منافق نه چې منافقت به یې ښکاره و او بل چا له جمع مخالفت نه کولو، یو سړی به پداسې حال کې چې د دوه کسانو په منځ کې به ځښول کېدلو راوستل شو او په صف کې به ودرول شو.

د هغه په بل روایت کې راغلي: رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته د حق موندنې لارې ښودلې د حق موندنې له لارو چارو نه په هغه جوماتو کې لمونځ کول دي چې په هغه کې آذان کېږي

## فوائد

۱. څوک چې پنځه وخته لمونځ په جمع سره کوي له الله جل جلاله سره به په داسې منه توګه لیدل وکړي

۲. په جمع لمونځ کول د ځینو عالمانو په اند واجب دي.

۳. له ځینو هغو عذرونو پرته چې عالمانو یې ذکر کړی دی په هېڅ ډول د جمع پرېښودل روا ندي

۴- په کور کې لمونځ کول د منافقانو تګلاره ده.

۵. صحابه کرام رضی الله عنهم په جمع دومره ټینګ وو چې د دوه کسانو په منځ کې به جمع ته راوستل کېدل بیا یې هم د جمع لمونځ نه پرېښودلو.

له ابودرداء رضي الله عنه نه روایت دی هغه ویلي: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اورېدلي دي:

ما مِن ثَلاثَةٍ في قَرْيَةٍ ولا بَدْوٍ لا تُقَامُ فِيهم الصَّلاةُ إلاَّ قدِ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَان. فَعَلَيكُمْ بِالجَمَاعَة فَإنَّمَا يأْكُلُ الذِّئبُ الغَنَمِ القَاصِيَةَ ١ .

هغه درې کسان چې په کلي یا دښته کې اوسېږي او هغوی په جمع سره لمونځ نه کوي هرو مرو په هغوی شیطان واکمن ګرځي، ځانونه د مؤمنانو له ډلې سره ملګري کړئ، ځکه چې لیوه له رمې ګوښه پاتې شوی څاروی خوري حدیث ابو داود په ښه سند سره روایت کړی.

## فوائد

۱. څوک چې چېرته اوسېږي پر هغوی د جمع لمونځ کول لازم دي.

۲. د دین له تابع ډلې سره ځان یو ځای کول ضروري دي که څه هم هغوی لږ وي

۳. څوک چې د مسلمانانو له ډلې نه ګوښه ګرځي پر هغه انسي او جني شیطانان واکمن کېږي.

---

١ ) (رواه ابوداود، برقم: ۵۴۷ )

## اووم فصل د لمانځه اقامت

لمونځ د الله تعالی عبادت دی چې د لمانځه په طریقه په استقامت سره پخپل وخت او خپل هیئت سره بشپړ شي.

فرضي لمنځونه په اسلام کې په یوه شپه او ورځ کې پنځه دي: د سهار لمونځ، د ماسپښین لمونځ، د مازدیگر لمونځ، د ماښام، او ماسخوتن.

د لمانځه له گټو څخه داده چې سیني ته انشراح حاصلیږي، سترگې پرې یخیږي، عقل ته قوت بښي، نشاط حاصلیږي، سستي له منځه وړي، له فحشاء او منکر څخه ممانعت کوي، د مسلمانانو تر منځ د تړاو یوه ذریعه ده.

## اتم فصل په حروفو او تورو د لمانځه د زده کولو طریقه

۱- د مسجد محترم امام دي سهار او مازدیگر د فرض لمانځه وروسته یوازې یو یا دوه لفظه لمونځ پخپله په تکرار څو ځله صحیح الفاظ ووا یي او بیا دې د هغه لفظ ټولي غلطي طریقې بار، بار وایي کله چې امام صاحب له خپلو مقتدیانو څخه مطمیئن سو چې نور یې لمونځ زده سو بیا دې بل لفظ په راتلون کې لمانځه کې شروع کړي ولو که درسته هفته پر یوه لفظ تیریږي هم امام دې مخ ته نه ځي. ځکه په لمانځه کې ډیر الفاظ سته چې په لړ کړوالي یې هم لمونځ فاسد یږي.

۲- کله چې د مسجد امام د خپل مسجد د ټولو مقتدیانو څخه مطمیئن سو چې لمونځ یې په حروفو زده سو بیا دې د لمانځه احکام پرې زده کړي دا کار اسانه دی خصوصاً کوم مقتدیان چې خط لوستلای شی هغه ته دې په لیکلې طریقه ورکړي خپله یې یادولای شي.

۳- په دریمه مرحله کې چې لمونځ په احکامو هم زده سي بیا دې څو ورځي لمونځ په ژباړه ورته وایي او بیا دې دا لیکلې ژباړه هم ورکړي ان شاء الله هغه یې خپله هم زده کولای شي.

۴- امامان دې نها یي کوښښ وکړي چې مقتدیانو ته داسي طریقه جوړه کړي چې د شرم کولو، سام کولو، تحقیرولو او سپکیتا زمینه را منځ ته نسي او هرمقتدي په فخر او خوشحالۍ سره لمونځ زده کړي.

۵- د مسؤلینو لخوا دې هیڅ زور نکول کیږي بس امامان او مقتدیان دې سره پریږدي.

۶-د مسجد امام دې مقتدیانو ته دا هم وا یي چې که څوک خواهش لري چې ما ته په جلا توګه لمونځ ووا یي هم دې د خدای جل جلاله د رضاء لپاره امام صاحب څو ورځي کوښښ او همکاري ورسره وکړي.

# نهم فصل د لمانځه د الفاظو صحیح او درست لوستل

| صحیح الفاظ | غلط الفاظ |
|---|---|
| اللهُ أَكبَرُسُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ،وَتَبَارَكَ اسْمُكَ،وَتَعَالى جَدُكَ،وَلَا إِلهَ غَيْرُكَ | الله اكبر - الله وکبر - الله اکپر- الله اکبارسبهانک - سبئانک سبحانکاللئم - اللحم- اللوم .وبهمدک - وبامدک - وبحمدکو تبارک اسمک -و تبارق اسمکو تالی جدک -و تئالی جدک ولا اله ولا اله غیرک ولا الح غیرک -لا یلاه |
| تعوذ | |
| أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَيْطَانِ الرَّجِيمِ | اعوظ - اءوذ -اعوذ باللح من الشیتن- من الشیطوانالرجیم |
| تسمیه | |
| بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ | بشم الله الروحمن -الرامانالروحیم -الرئیم |
| الفاتحه | |
| الحَمْدُلله رَبِّ العَالَمِينَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مَالِك يَوْمِ الدِّينِ إِيَاكَ نَعْبُدُوَإِيَاكَ نَسْتَعِينُ اهْدِنَا الصِّرَاطَ المُسْتَقِيمَ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ المَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَالِينَ آمين | الحمد- الهمد- الأمد - الحمدُوا - الحمدللهیرب الالمین - رر العالمینالروحمن الروحیم -الرامان الرن الرئیممالک یوم دین -مالق یو الدینایاک نابد - اياق نعبد- نابودو ایاکنستیین اهدینا- اهدن السراتول - الصیراطولاالمست کي م صراطوالذین - صیراتوالذین اللذینانعمت - انئمت - انعمتالیهم - علیحم - علیهیم - علیهو غیرالمغضوب -المغذوب -المغظوب -ولا الظالین -ولا الغنندالین ولا لذالین ولا الدوالین -الضوالینمین |
| سورة اخلاص | |
| قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ،اللهُ الصَمَدُ،لَمْ يَلِدْ ،وَلَمْ يُولَدْ ،وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُواً أَحَدٌ | کل هو الله -هؤالله -قل حو اللهاهد -احد -آحد الله السمد -اللح الصم -الله صمد -اللهو الصمدلم یلد -لم یلیدولم اولد -ولم یلدولم یقل له ولم یکن له کفوا -کوفوا |
| رکوع تسبح | |
| سُبْحَانَ رَبِّيَ العَظِيمِ | سبهان - سبئان - سبحان - سوبحانربی - ربئ- العظیم - العظیم العظویم |

| صحیح الفاظ | غلط الفاظ |
|---|---|
| سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا لَکَ الْحَمْدُ | سمی الله - سمیع الله - سمیع اللحهمده - حمده - حمده - حمدح - أمد هربنا - لک - الامد - لک الهمد - لک احمد |
| تسبح السجود | |
| سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى | ربی العلی - ربی الئلی - العلا |
| تشهد | |
| التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْکَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، کَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّکَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ | التهیات- التایات- اتایاتوصلوات - و الصوات- والصلوادوالتیبات - و الطبات - والطیباتالسلام علیک - السلاما الیک - السلام علیکایحا النبي - ایئ النبیورهمت الله- و برحمتواللهوبرکاته - وبرکاتهسلامالینا - السلام الینا - السلام علیناوعلی اباد لله - عباداللهالصالئین - الصالحیناشحدان - اشهدو لا - اشهدوانلا یلاه الا الله - لا اله الی الله - لا اله الی اللهو اشدون مهمدا - مامداابده - عبدوه - ابدوهورسوله - و رسولوا - ورسولهالئم - اللحم - سل - صول - صلی- الیوعلی عال محمد - هال محمد کما صلیت - سلیت - صولیت- صلیطعلی یبراهیم - هبراهیم - الی ابراهیم - ابراهیمو الی ال ابراحیم - ولآل ابراهیمانکحمید مجید - مجید - حمید |
| اللّٰهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ | ربنا - ربناعاتنا - اتینا - اتنا في دنیا - اچنا في الدنیاحسنة - حصنة - اسنةو بي الاخرة - و في الاخرةو کنا اذاب - و قینا - وقنا - وقنا - |
| دعای قنوت | |
| اللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُکَ وَنَسْتَغْفِرُکَ وَنُؤْمِنُ بِکَ وَنَتَوَکَّلُ عَلَيْکَ وَنُثْنِي عَلَيْکَ وَنَشْکُرُکَ وَلَا نَکْفُرُکَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُکُ مَنْ يَفْجُرُکَ اللّٰهُمَّ إِيَّاکَ نَعْبُدُ وَلَکَ نُصَلِّي وَنَسْجُدُ وَإِلَيْکَ نَسْعَى | نستیینک - نسطعینک - نستعینوکو نستغفروک - و نستغفرک - و نستغپروکو نومن - و نومن بکو نتوکل - ونتوکل - الیکونسني الیکو نشکروک - ولا نشکرک - ولا نکفروک - ونکفروکو نخلؤ - ونخلعواو نتروک - و نترکیفجروکایاک نابد- نعبدنسهیونحفدوا- و نهفدرهمتکاذابک - و نشخیان اذابک - ان عذابکبالکوفار- ملهک |

| صحیح الفاظ | | غلط الفاظ |
|---|---|---|
| وَنَحْفِدُ نَرْجُو رَحْمَتَکَ وَنَخْشَى عَذَابَکَ إِنَّ عَذَابَکَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ | | |

## لسم فصل دلمانځه ټکي په ټکي ترجمه

الله اکبر

الله ډېر لوی دی

سُبْحانَکَ اَللّٰهُمَّ وَ بِحَمْدِکَ:

الله ته پاک يې او ستاينه تاته ښايي

وتَبارَکَ اسْمُکَ وَ تَعالى جَدُّکَ:

نوم دې مبارک دی او شان دې لوړ دی

وَ لاإِلهَ غَيْرُکَ

او له تا پرته بل معبود نشته

اعوذ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ:

الله ته پناه وړم له رټل شوی شیطان څخه

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿١﴾.

د مهربانه او بخښونکي الله په نامه

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٢﴾.

ټولې ستاینې او ښه صفتونه الله لره دي، هغه چې د ټولو عالمونو پالونکی دی

الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٣﴾ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٤﴾ .

ډېر زيات مهربانه او بخښونکی، د قیامت د ورځې څښتن دی.

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴿٥﴾.

یوازې ستا عبادت کوو، او یوازې له تا څخه مرسته غواړو.

اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿٦﴾.

مونږ ته سمه او مستقیمه لاره وښایه
صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴿٧﴾ .

د هغو کسانو لار چې تا پرې فضل او کرم کړی، نه لار د هغو چې غضب پرې شوی او نه لار د ګمراهانو امین زمونږ دعا قبوله کړه.

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾.

ووایه چې الله یو دی.

اللَّهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾.

الله بې نیازه دی هېڅاته محتاج ندی.
لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿٣﴾ .

نه څوک ورڅخه زېږدلی دي او نه له چا څخه زېږدلی دی.
وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ ﴿٤﴾ .

او نه يې کوم سيال شته.
سُبْحانَ رَبِّیَ العَظِيمِ .

څومره سپېڅلی دی زما لوی پالونکی.

سَمِعَ اللّهُ لِمَن حَمِدَهُ الله.

د ستايون کې خبره اوري

رَبَّنا لَکَ الْحَمد.

يا ربه ستاينه له تاسره ښايي.

سُبْحانَ رَبِّیَ الأَعْلَی.

څومره سپېڅلی دی زما لوړ پالونکی.
اَلتَّحِيّاتُ لِلّهِ وَ اَلصَّلَواتُ وَ اَلطَّيِّباتُ.

ټول تعريفونه، لمونځونه او نيک الفاظ الله تعالی لره دي
اَلسَّلامُ عَلَيْکَ اَيُّهَا اَلنَّبِیُّ وَ رَحمَتُ اللهِ وَ بَرَکاتُهُ.

سلام دې وي پر تا ای نبي او د الله تعالی رحمتونه او برکتونه دې پر تا وي
اَلسَّلامُ عَلَيْنا وَ عَلى عِبادِ اللهِ اَلصّالِحِينَ .

ستا سلامتیا دې پر موږ او ستا پر صالحو بنده ګانو وي
اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلَهَ اِلَّا اللهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً عَبدُهُ وَ رَسولُهُ .

شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته، او شاهدي ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دی
اَللّهُمَ صَلِّ عَلی مُحَمَّدٍ وَ عَلی آلِ مُحَمَّدٍ.

یا الله پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه په کورنۍ رحمتونه ولوروه.
کَما صَلَّیْتَ عَلی اِبراهیمَ وَ عَلی آلِ اِبراهیمَ.

لکه د ابراهیم عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ او د هغه په کورنۍ دې چې لورولي دي

اِنَکَ حَمیدٌ مَجیدٌ .

بېشکه ته ستایلی او لوی یې
اَللّهُمَ بارِکْ عَلی مُحَمَّدٍ وَ عَلی آلِ مُحَمَّدٍ.

یا الله پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه په کورنۍ برکتونه ولوروه.
کَما بارَکْتَ عَلی اِبراهیمَ وَ عَلی آلِ اِبراهیمَ.

لکه د ابراهیم عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ او د هغه په کورنۍ دې چې لورولي.
اِنَکَ حَمیدٌ مَجیدٌ.

بېشکه ته ستایل شوی او لوی یې.
اللّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً .

یا ربه موږ ته په دنیا کې نې کې ښه ژوند راکړه.
وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً.

په اخرت کې نې کې جنت راکړه.
وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ.

او د دوذخ له اوره مو وژغوره.
السَّلامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ.

سلام او د الله رحمت دې پر تاسو وي
اَللّهُمَّ اِنّا نَسْتَعینُکَ وَ نَسْتَغْفِرُکَ.

یا الله له تا څخه مرسته او ببنښه غواړو.
وَ نُؤْمِنُ بِکَ وَ نَتَوَکَّلُ عَلَیْکَ .

پرتا مو ایمان او توکل دی.

وَ نُثْنِی عَلَیْکَ الْخَیْرَ.

او ستا غوره ستاینه کوو.

وَ نَشْکُرُکَ.

او ستا مننه کوو.

وَ لا نَکْفُرُکَ.

او ناشکري نه کوو.

وَ نَخْلَعُ وَ نَتْرُکُ مَنْ یَفْجُرُکَ.

او له هغه چا څخه جلا کېږو او پرېږدو يې چې ستا څخه سرغړونه کوي.

اَللّٰهُمَّ اِیَّاکَ نَعبُدُ وَ لَکَ نُصَلّی.

یا الله ستا عبادت کوو او تاته لمونځ کوو.

وَ نَسْجُدُ.

او موږ تاته سجده کوو.

وَ اِلَیْکَ نَسْعی.

او ستا لور ته درځغلو.

وَ نَحْفِدُ.

او ستا هر امر ته حاضر یو.

وَ نَرجُوا رَحْمَتَکَ.

او ستا د رحمت او لورونو هیله من یو.

وَ نَخْشی عَذابَکَ.

او ستا له عذابه وېرېږو.

اِنَّ عَذابَکَ بِالْکُفّارِمُلْحِق.

بیشکه ستا عذاب په کافرو پورې نښتونکی دی.

## لومړی د لمانځه فرضونه

د لمانځه فرضونه ټول (۱۴) څوار لس دي:

اته تر لمانځه د باندې او شپږ په لمانځه کې دننه دي:

اته د باندې فرضونو ته د لمانځه شرطونه هم ویل کېږي چې په لاندي ډول دي:

۱- اودس کول.

۲- د بدن پاکوالی.

.۳- د جامو پاکوالی.

۴- د ځای پاکوالی.

.۵- عورت پټول د نارینه وو لپاره له نامه څخه تر ځنګنونو پوري او د ښځو لپاره له مخ ، لاسونو او پښو څخه علاوه نور ټول بدن عورت دی.

.۶- د لمانځه وخت داخلیدل.

.۷- قبلې ته مخ کول.

.۸- نیت کول .

شپږ فرضونه په لمانځه کې دننه دي چې هغو ته د لمانځه ارکان هم ویل کېږي هغه په لاندې ډول دي:

۱- د تحریمې تکبیر ویل.

.۲- قیام ولاړه.

.۳- قرائت ویل.

.۴- رکوع کول.

.۵- سجده کول.

.۶-اخیره قاعده د تشهد په اندازه کیناستل.[1]

[1] شروط الصلواة ۵ صفحه. تحفة الفقهاء ص ۹۵.

## دویم د فرضونو د پرېښودلو حکم

دلمانځه فرض که له چا څخه په قصد او یا هیره سره پاتې شي لمونځ یې نه صحیح کېږي او بیرته به یې راګرځوي[1]

## دریم د لمانځه د فرضونو تمرین

۱پوښتنه: دلمانځه فرض څو ډوله دي؟

۲پوښتنه: د لمانځه داخلي او خارجي فرضونه څو دي؟

۳پوښتنه: د نارینه د بدن کوم ځایونه عورت دي؟

۴پوښتنه: د التحیات په اندازه سره اخیري ناسته واجب ده که فرض؟

## څلورم د لمانځه واجبات

په لمانځه کې پنځلس واجبات دي:

۱- د فرض لمنځونو لومړني دوه رکعتونه ډک ادا کول.

.۲- د فرض لمنځونو له دریم او څلورم رکعت څخه پرته د نورو لمنځونو په هر رکعت کې فاتحه (الحمد الله) ویل.

.۳- د فرض لمانځه له دریم او څلورم رکعت څخه علاوه د نورو ټولو لمونځونو په هر رکعت کې تر سورت فاتحه الحمد الله وروسته یو اوږد یا ۳ درې کوچني ایاتونه ویل.[2]

۴- سورة فاتحه الحمد الله پر سورت مخکې ویل.

.۵- د امام لپاره په جهري لمنځونو کې په لوړ اواز قرائت ویل او په خفیه لمنځونو کې په پټه ویل.

.۶- قومه کول یعني له رکوع وروسته دریدل.

.۷- جلسه کول د دواړو سجدو تر منځ کیناستل.

.۸- لومړی قعده کول (په درې رکعتي او څلور رکعتي لمنځونو کې تر دوو رکعتونو وروسته د تشهد په اندازه کیناستل).

.۹- په دواړو قعدو کې التحیات ویل.

.۱۰- په وترو کې د دعای قنوت لپاره تکبیر ویل.

---

[1] شامی: ج:۲/ص: ۱۵۸/ط: رشیدیه
[2] شامی: ج:۲/ص: ۱۸۵/ط: رشیدیه

۱۱- وتروکې دعاي قنوت ویل.

۱۲- د اختر په لمنځونو کې شپږ زیات تکبیرونه ویل.

۱۳- په سلام سره له لمانځه نه وتل.

۱۴- د ارکانو تعدیل یعني رکوع ، سجده او نور ارکان په اطمینان سره ادا کول.

۱۵- په ترتیب سره د ارکانو تر سره کول (په قرائت ، رکوع، سجدو او رکعتونو کې د ترتیب مراعات کول. [1]

## پنځم د لمانځه د واجباتو د پرېښودلو حکم

په لمانځه کې که واجب پاتې شي نو سجده سهوه لازمیږي او که په قصد يې پريږدي نو لمونځ به بیرته راګرځوي [2]

که په چا سجده سهوه لازمه وي خو دکوم عذر له امله پاتې شي یا ورځخه هیره شي نو لمونځ راګرځول غواړي اوکه يې په قصد پرېښوده نو بیا به د لمانځه اعاده کوي [3]

## شپږم د سجده سهوې بیان

د واجب اصلي په پرېښودلو یا يې په تأخیر دواجبو یا فرضو یا یو فرض له خپل وخت مخکې ادا کول یا فرضو په تکرار سره سجده سهوه واجبیږي. او که چا پورته کارونه په لمانځه کې په قصد سره وکړل نو لمونځ دې بیرته راوګرځوي [4].

## اووم د سجده سهوې طریقه

په اخیره ناسته کې به له تشهد لوستلو وروسته ښي طرف ته سلام وګرځوي بیا به د سهوې سجده وکړي بیا به التحیات، درود شریف او دعا ووایي او سلام به وګرځوي.

که سجده سهوه قصدا ونه شي لمونځ نه صحیح کېږي او که سهوا هیره شي کله چې ور یاده شوه نو ودې کړي خو په دې شرط سره چې له قبلې څخه نه وي منحرف شوی او له درود دعا او ذکر څخه غیر بل کوم عمل يې وي انجام کړی فورا دې سجده سهوه وکړي [5]

---

[1] نور الایضاح ۵۵ صفحه. مجمع الانهر ص جلد ۱ – ۸۸.

[2] شامی: ج: ۲/۱۸۱/ط: رشیدیه

[3] تقریرات الرافعي شامی: ج: ۲/۱۸۱/ط: رشیدیه

[4] الهدایه ص ۷۴.

[5] شامی: ج: ۲/ص: ۶۵۵/ط: رشیدیه

## اتم د سجده سهوې په هکله ځينې مسائل

۱-اوله قاعده پرېښودل، او په آخره قاعده کې د تشهد هېرول.

۲-تکرار د رکوع کول.

۳-درې ځلي سجده کول.

۴-اوله قاعده کې پس له تشهد څخه درود ويل.

۵-دامام لپاره جهري لمنځونه په خفيه او خفيه لمنځونه په جهر سره کول. په دې ټولو مواردو کې سجده سهوه لازمېږي.

لمړی مسئله: که يو څوک په لمانځه کې سورة فاتحه سهوا پرېږدي يا مخکې له فاتحې څخه بل سورت قرائت کړي او بيا سورت فاتحه ولولي پدې صورت کې سجده سهوه لازمېږي.

دويمه مسئله: که چا سورت فاتحه ولوستله بيا په دې فکر کې شو چې کوم سورت ورسره ضم کړي او درې ځلي تسبيحاتو په اندازه وخت ووتلو بيا يي سورت ياد ته راغی سجده سهوه کول پرې لازم دي.

دريمه مسئله: که څوک په آخره قاعده کې شکمن شو چې څلور رکعته يې کړي که درې رکعته او دومره وخت ورباندې تير شولو چې درې ځلي سبحان الله ويل کېږي نو پدې صورت کې هم سجده سهوه لازمېږي.

څلورمه مسئله: په درې رکعتي او څلور رکعتي لمانځه کې که يو څوک پس له دو اولو رکعتونو څخه قاعده هيره کړي او نيغ ودرېږي په دې حالت کې بيرته کيناستل ضرور نه دي نو بيا به په آخر کې سجده سهوه کوي .

پنځمه مسئله: که د ضرورت په بنا يو قدم مخ ته يا شاته يا هم څنګ ته لاړ شي پدې شرط چې مخ له قبلې څخه وا نه وړي لمونځ يې نه فاسديږي.

که چېرته د لمانځه په حالت کې يو چاته زنګ راشي او نورو خلکو ته تکليف رسيږي نو په لمانځه کې بيا د تيلفون بندول بهتر دي.

شپږمه مسئله: که چا دعاء قنوت ياد نه وي نو پر ځای يې: ربنا اتنا درې ځلي اللهم اغفرلی يا ربی ولولي صحيح ده.

## نهم د لمانځه د واجباتو تمرين

۱پوښتنه: په لمانځه کې څومره واجبات دي؟

۲پوښتنه: د دوو سجدو تر مينځ کيناستل واجب دي که فرض؟

۳پوښتنه: په اوله او اخيره ناسته کې التحيات ويل څه شی دي؟

۴ پوښتنه: که څوک په هیره کوم واجب پریږدي نو لمونځ به څنګه کوي؟

## لسم د لمانځه سنتونه

### په لمانځه کې شل سنتونه دي

۱- په تکبیر تحریمه کې دواړه لاسونه تر غوږو پورې پورته کول.

۲- د دواړو لاسونو ګوتې په خپل حال خلاصې پرېښودل او قبلې ته مخامخ کول.

۳- د تکبیر تحریمه په وخت کې سر په عادي حالت لوړ نیول.

۴- د امام لپاره تکبیر تحریمه او نور تکبیرونه په لوړ اواز لوستل.

.۵- راسته لاس په چپه لاس تر نامه لاندې ایښودل.

۶- ثناء لوستل سبحانک اللهم په اول رکعت کې.

۷- تعوذ اعوذ بالله ویل په اول رکعت کې.

۸- تسمیه بسم الله ویل. په هر رکعت کې.

۹- د فرضو په دریم او څلورم رکعت کې سورة فاتحه لوستل.

.۱۰- امین ویل.

.۱۱- سبحانک اللهم ،اعوذ بالله ،بسم الله او امین په کراره او ورو ویل.

۱۲- د سنت موافق قرائت ویل.

.۱۳- په رکوع او سجده کې لږ تر لږه درې واره تسبیحات ویل.

.۱۴- په رکوع کې سر او ملا برابرول او په خلاصو ګوتو ځنګنونه نیول.

.۱۵- له رکوع څخه د پورته کیدو په وخت کې د امام او منفرد لپاره سمع الله لمن حمده ویل او په قومه کې د مقتدي او منفرد لپاره ربنا لک الحمد ویل.

.۱۶- سجدې ته د تللو په وخت کې لومړۍ ځنګنونه بیا لاسونه بیا پوزه بیا تندی په ځمکه ایښودل. ۱۷- جلسه او قعده کی نارینه لره ، ښی پښه درول او چپه پښه غوړول او کېناستل او ښځو لره دواړه پښې ښي طرف ته ایستل او په هغې کېناستل.

۱۸- په اخیره قعده کې له تشهد نه ورسته درود شریف ویل.

۱۹- له درود نه ورسته دُعا لوستل الهم ربنا.

۲۰- لومړی ښي طرف او بیا چپ طرف ته سلام ګرځول[۱].

## یوولسم د لمانځه د سنتونو د پرېښودلو حکم

که چا کوم سنت په هیره یا په قصد سره پرېښودل نو لمونځ یې نه فاسدېږي مګر په قصد سره پرېښودل یې ښه کار نه دی او که څوک یې همیشه پرېږدي نو ګناه ده[۲]

## دولسم د لمانځه د سنتونو تمرین

۱پوښتنه: په لمانځه کې څومره سنتونه دي؟

۲پوښتنه: د تکبیر تحریمه پر مهال به ګوتې او سر څه ډول نیسې؟

۳پوښتنه د جلسې پر مهال به سرې څرنګه کیني؟

۴پوښتنه: په لمانځه کې د سنت پرېښودلو حکم څه دی؟

## دیارلسم د لمانځه مستحبات

۱- د نارینه وو لپاره د تکبیر تحریمه په وخت کې له لستوڼو څخه د لاسونو را ایستل او غوږو ته پورته کول او د ښځو لپاره په ټکري کې د ننه تر اوږو لاسونه پورته کول.

۲- په رکوع او سجده کې د منفرد یو ازې لمونځ کونکي لپاره پنځه یا اوه واره تسبیح ویل.

۳- د قیام په حالت د سجدې ځای ته، په رکوع کې پښو ته په سجده کې د پوزې نرمۍ ته، په قعده کې سینې ته او د سلام په وخت کې خپلو اوږو ته کتل.

۴- د وس په اندازه د ټوخي بندول.

۵- د ارګیمي په وخت کې د خولې بندول البته د خلاصیدو په صورت کې، د قیام په حالت کې د ښي لاس او په نورو حالاتو کې د چپ لاس شا په خوله ایښودل[۳].

---

۱ نورالایضاح ص ۵۸.

۲- شامي: ج:۲/ص: ۲۰۸/ط: رشیدیه

۳ شروط الصلوٰة – نور الایضاح ص ۵۹.